محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

# ۹۵

# د «تین» سورت تفسیر

## په پښتو

ژباړه او څېړنه :

احمد حسین عنایت

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوراند او لورين الله په نامه

سورة التين

# د تين سورت (۹۵)

د تين سورت تشريح

ژباړه او څېړنه:

احمد حسين عنايت

د «تين» سورت مکي دی (۸) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۹۵) په نزول کې ( ۲۸) سورت دی د «بروج» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی

## له مخکيني سورت سره يې اړيکه

ددې سورت اړيکه له مخکيني سورت ( انشراح ) سره لکه د نورو تيرو سورتو ترمنځ يو تر بله د اړيکو د روښانتيا او وضاحت په کچه نه ده او د تين په سورت کې هيڅ داسې کليمه نه موندل کيږي چې د انشراح په سورت کې هم کارول شوي وي. خو د بلد له سورت سره چې نسبتاً په نژدې واټن کې [د ځلورو سورتونو په واټن: شمس، ليل، ضحی او انشراح] ورسره موقعيت لري ډېر ځرګند ورته والی لري، په داسې ډول چې په دواړو سورتونو کې د مکې ښار له سوګند سره يې، د انسان د خلقت په اړه پايله او نتيجه اخيستې ده:

د بلد سورت: لَا أُقْسِمُ بِهَذَا الْبَلَدِ .... لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ

د تين سورت: وَهَذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ... لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ

له دې ټولو سره سره، که څه هم په ظاهري توګه د انشراح او تين دوه سورتونه ير تربله بې اړيکې بريښي، خو که د هغوي د مضمونونو محور او محتوا پرتله، يو له بله سره وکړو، ددوي تر منځ د اشتراک ځرګنده وجه کتلی شو چې ددې دواړه سورتونو تر منځ ژور پيوند ځرګندوي په داسې ډول چې د انشراح سورت اصلي پيغام، د پيغمبر په نسبت د الهي لطفونو پورې اړوند له مقدماتو وروسته، له سختۍ سره د آسانۍ پر ملتيا او يو ځايوالي ټينګار دی [فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا. إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا]، چې انسان له مصيبتونو او ستونزو سره په مخامخ کېدو کې نهيلی او خواشينی نه شي او په زړه کې له کړاو وروسته د راحت او سوکالۍ شوق ولري. او چون ژوند سر تر سره د نېواک او ازمېښت د کړيو لړۍ ده، بايد له هرې سختۍ څخه له فراغت او له هرې ستوزمنې دندې له پای ته رسولو وروسته، خپل ځان نورو سختيو او مهمترو مسئوليتونو او دندو ته برابر او چمتو کړي او د الهي بې نهايت هدف پر لور د حرکت پر انګيزه اوچت ګامونه واخلي : [فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ . وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ]

د «تين» په سورت کې هم همدا لړۍ « چې د متعالي او اوچت هدف پر لور د انسان دائمي او تلپاتې حرکت او هڅه ده»، په بله بڼه ځرګندوي. انسان چې «د الله پر لور په حرکت کې د قيام او پورته راتلو د چمتو والي او استعداد» په بهترين تقويم کې خلق شوی دی او د «اعلی عليين» او د لوړو او متعالي

ارزښتونو پرلور د صعود او اوچتوالي د هڅوونکي او ځواکمن ماشین لرونکی دی، سقوط ورکوونکي جاذبې ته سپارل کیږي که خپل تموونکی ځواک (د تقوا بریک) و نه کاروي او د ځمکې او زمانې [ د ژوندانه پر مهال د دنیا پالنې] د جاذبې پر خلاف حرکت ونکړي، «اسفل سافلین» ته غورځیږي [ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ. إِلَّا الَّذِينَ ...]. دا ځرګنده ده چې له صعود او اوج اخېستو سره، د جاذبې د ځواک اغېزه کمیږي او په نسبي توګه یو راحت او هوساینه حاصلیږي. دا هماغه د انشراح سورت د [إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا] اصل دی چې بیان شو. نور وروستي او د دواړو سورتونو پاتې آیتونه هم دقیقاً د پالونکي رب پر لور ددغه ابدي سفر انګېزه، هدف او هڅوونکی ځواک ځرګندوي.

## د سورت د مضمونونو محور:

څرنګه چې معمولاً د هر سورت د لومړنیو سوګندونو او د هغوی د ځواب تر منځ یوه اړیکه شتون لري، د «تین» سورت د سوګندونو په اړه هم کیدی شي د « لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ» له نتیجې څخه د سوګندونو د موخې او مقصود د پوهېدو لپاره استفاده وشي. د قرآن په نورو سورتونو کې د هغوی د موضوع او مضمون په تناسب، له مختلفو اړخونو او جنبو د انسان خلقت ته اشاره شوې ده خو دلته ددغه خلقت او پنځېدنې په «احسن تقویم» والي ټینګار شوی دی. د «تقویم» کلیمه چې له «قیام» څخه ده، د انسان په نهاد کې د هاغو استعدادونو زمینه ځرګندوي چې د هغه د رشد او کمال پر لور د ولاړېدنې او پاڅون (قیام ) لامل کیږي، په داسې ډول چې د عالم له مخلوقاتو څخه هېڅ یو هم، داسې استعداد او چمتو والی نه لري. نو په دې ترتیب د سوګندونو محور باید د انسان د قیام او پاڅون او د هاغه تحرک او تکامل د ځواک د بیان او تشریح د وړتیا په لور او جهت کې وي. اوس وینو چې پر دغه چورلیز ددې سورت د لومړنیو دریو سوګندونه تر منځ څه اړیکه شتون لري.

لومړنی آیت پر [انځر او ښوون] دوو سوګندونو مشتمل دی (و التین و الزیتون). معمولاً داسې بربښي چې د میوې او محصول د ورکولو لپاره لازم او کافي شرط اوبو او ډېرې سرې ته لاسرسی دی. سره له دې چې دا شرطونه د انکار وړ نه دي، خو داسې مقاومې ګیاګانې او نباتات شتون لري چې له لږې کچې اوبو او لومړنیو موادو سره خپل وجودي زیات نه زیات حاصل او برخمنتیا وړاندې کوي. اصولاً طبیعي سخت شرایط، ونه د نشت له زغم سره روږدي کوي او هغه خپل حرکتونه له خارجي او دباندینیو ستونزو سره همغږي کوي. د تین [انځر] او زیتون [ښوون] دوه ونې له هاغه ډلې ونو څخه دي چې د خپل «قوام» موندلي جوړښت له لامله، د خارجي سختو شرایطو په وړاندې «مقاومې» دي او د چاپېریال د نابرابروالي سره سره، مقوي، او ځواک لرونکي مېوې او محصول ورکوي چې د ځانګړې درملي او غذایي خاصیت لرونکې دي.

او موږ پوهېږو چې د طور غر او د سینا صحرا هماغه وچه او محرومه سیمه ده چې حضرت موسی، بني اسرائیل له آل فرعون څخه تر ژغورنې وروسته هغې سیمې ته بوتلل چې د صحرا د ژوند له سختیو او فقر او محرومیت سره یې روږدي کړي او د اسارت او غلامۍ د پېر لټې، سستي او تنبلي یې، د خپلواکۍ،

آزادۍ، عزت او انساني کرامت د پېر په شجاعت او زړورتيا بدل کړي خو هغوی به تل له يوګوني طعام څخه شکايت کاوه او زړونو به يې د ښار د سبزۍ، ترکارۍ، بادرنګ، هوږې، نسکو او پيازو هوا کوله.

نو دريم سوګند پر«طور سنين»؛ ګواکې طور د يوه مشخص غر نوم دی او «سينا»(سينين) هاغه لمن يا دښته ده چې د نوموړي غره په وړاندې واقع شوې ده. دا سيمه نه يوازې کلکو او مقاومو ونو لکه زيتون ته پالنه ورکوي(وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ...)، بلکه قوام موندې انسانان هم د هغه په لمن کې د الهي تقرب مقام ته رسيدلي دي. په دې ترتيب دا غر او لمنه يې د يو مستعد ، مهتدي او متقي انسان د قوام موندلو او پخېدلو شاهدان کېږي چې الهي کلام ته مستقيم او نيغ په نيغه مخاطب شو او د هاغې زمانې د بشريت لپاره يې بشپړ شريعت راوړ. ګواکې ددې سوګند (طور سنين) اهميت له دې جهته دی چې تر دې مخکې د بشپړې وحی د وړانګو موندلو لپاره دا ډول وړتيا، قابليت او يو «قيام» شتون نه درلود، او دا تحول او بدلون د بشر په تاريخ کې د ټاکونکي ګرځېد نښې او عطف د نقطې په عنوان ګڼل شوی دی. دادی دا قائم ، استوار او ټېکاو ستر وګړی مأموريت مومي چې د فرعون له تسلط او نېواک څخه د بني اسرائيلو په ژغورلو او نجات، د يو مستضعف امت امامت وکړي او داسې هدف، موخې او مقصود ته يې لاربښوونه وکړي چې د توحيد او تسليم پر لور د قيام او وجودي وتلو څخه عبارت دی. «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ».
او په پای کې وروستنی سوګند پر «بلد امين» (مکه)، هغه ټاټوبی ځرګندوي چې تل د تاريخ په اوږدو کې، له آدمه تر ابراهيم (ع) او له ابراهيمه تر محمد (ص)، د ځمکې پر مخ د «امن» يوازينی حريم پاتې شوی دی. که د «طور» غر د بشپړې او کاملې وحی او شريعت د لومړنيو وړانګو مکان وو، د «نور» غر [جبل النور–د حراء غار] له ټولو شريعتونو څخه د بشپړترين او کاملترين شريعت د پاياني وړانګو مکان وو.
هاغه څه چې د دغو دوو پيغمبرانو د ژوندانه په بهير کې د مشابهت په توګه تر سترګو کېږي، سختۍ، مصيبتونه او ستونزې دي چې تل پرې دوڅار ول او د هغوی په متن کې يې خپل بالقوه استعدادونه او وړتياوې فعليت ته ورسولې.
په دې توګه د مکې وچه او سوځوونکې سيمه چې د هر ډول کرکېلې له استعداد او وړتيا نشتمنه ده.(وادٍ غير ذی زرع ) د خپلو سختيو او محروميتونو په زړه کې، همدا چې د امنيت لرونکې ده .(بلد الامين ) يو قوام موندي پوخ انسان لکه «محمدامين (ص)» ته پالنه ورکوي.

هاغه چې له دې څلورو سوګندونو څخه د ( لقد خلقنا الانسان فی احسن تقويم ) له ځواب سره په تړاو نتيجه اخلو، هماغه د انسان د بالقوه استعدادونو وده او غوړېدا ده او په سختترينو شرايطو کې له لږ تر لږو توکو سره د ايمان د اصلي ساقې او ډېر قايمېدل او د ټېکاو، استوارو او ښېرازو خرانګو راوتل دي.
ددې سورت لومړنيو آيتونو ته د «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ» ځواب، د راپورته کېدو او ولاړېدو (قيام) او د «اعلی عليين» مقامونو ته د عروج او د انساني کمال لوړې څوکې ته د اوچتېدو لپاره د انسان د قوام موندو او پخو استعدادونو وړتيا ځرګندوي. د ټولو نباتاتو او حيواناتو له منځه يوازې انسان دی چې الهي روح په هغه کې پُو شوی دی او د «اختيار» د پېرزوينې په مرسته يې د دا ډول لوړتيا وړتيا موندلې ده.
د «اختيار» پايله او نتيجه، ټاکنه او «انتخاب» دی او د انتخاب لازمه، په لارو او روشونو کې تنوع او

رازراز والی دی. پر دې بنا صعود او لوړتیا د انسان یوازینی انتخاب نه دی، د سقوط او غورځېدنې لار هم د هغه پښو ته کاږل شوې ده چې په خپل اختیار او خوښه یوه لار غوره او پر مخ واخلي. یو انسان هغه مهال د الهي رضوان او رحمت لیاقت او وړتیا لاسته راوړي چې پخپله اراده، خوښه او انتخاب او اختیار له شیطاني جاذبې څخه الهي جاذبې ته داخل شي او په پرله پسې توګه زيات نه زيات د هغې سرچينې ته نږدېوالی وکړي همدا سعی او هڅه ده چې د هغه قوام موندی وجودي ساختمان ( لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم ) هغه د الهي رنګ پر لور ( الی المصیر ) قیام او غوړېدا ته هڅوي او سموي او که د پرښتو په څېر چې له یو مخې د کايناتو د پالونکي رب په تقديس او تسبيح بوختې دي، يوازې به د رحمانيت د جاذبو تر اغېز لاندې واقع وای، او له خپله ځانه به يې کوم نقش او رول نه ځرګنداوو او د قیام او پاڅون قابلیتونه او وړتیاوې به يې فعلیت نه رسېدې، او په هماغه د پرښتو په مَلَکي مقام او منزل به باقي پاتې وای. نو له همدې لامله دی چې علیم او حکیم پالونکي رب ورروسته له دې چې هغه يې له بهترينو وړتياو سره په احسن تقويم کې و پنځاوه د سقوط او غورځېدا جاذبې ته يې ور وسپاره چې یا اعلی علیین ته صعود او لوړتیا وکړي او یا په اسفل سافلین کې سقوط او غورځېدا وکړي. (ثم رددناه اسفل سافلین ).

او په دې توګه د «انسان «هبوط» هم لکه د هغه د صعود په څېر تلپاتې او لایزال دی او اعلی علیین او د اسفل سافلین په دوو لورو کې حرکت د تقوی یا فجور د ځواک په توسه په همدې ډول ادامه لري.

پر دې خسران او اسفل سافلین ته پر سقوط یوه استثناء شتون لري چې هغه عبارت له «ایمان او عمل» څخه ده ( إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ). دا دوه لاملونه د انسان د دنننې ځواک او هڅوونکي مشين په توګه، له یو پلوه ځمکې ته د سقوط له منفي جاذبې سره مقابله کوي او له بل پلوه لوړو ارتفاعاتو ته د صعود لامل کيږي.

د انسان د صعود او سقوط د قانونمندیو له بیان وروسته او د نېک چارو مؤمنینو لپاره د بې پایانه اجر (اجر غير ممنون) له ټاکنې پسې، دادی پیغمبر اکرم (ص)، یا په احسن تقويم کې پنځول شوي هر انسان ته په خطاب کې پوښتنه کوي: «فما یکذبک بعد بالدین».

لکه څنګه چې انسان په احسن تقويم کې پنځول شوی دی او کولی شي حق ته په قیام سره او د هغه د جاذبې تر آغېز لاندې د ایمان او صالح عمل په ځواک صعود وکړي، یا دنیایي جاذبو ته په تسلیم او تن ورکولو سره د فساد په منجلاب کې سقوط وکړي، نور نو له اجر او پاداش سره د عمل له اړيکي څخه د انکار څه ځای پاتې کيږي «فما یکذبک بعد بالدین»؟.

له کومه چې انسان په«حرکت»کې خپل ماهیت جوړوي او د سختيو په کشاکش او د اوضاع او احوال په لوړو ژورو کې انساني جوهر او هويت صيقل مومي او خپل ځان ځرګندوي،نو د حساب او کتاب او د ميزان او عدل او انصاف د حاکميت د تکذيب ځای نه پاتې کيږي که الله «احکم الحاکمین» دی د هغه

حکم دا ډول دقيق او محکم دی چې يو ډېرکوچنی عمل هم ناليدلی نه پرېږدي. ځکه چې د عالم دستګاه او کارخونې ته يې دا راز يو نظام ښېلی چې هر چاته بايد د هغه د عمل پر حساب جزا ورکړل شي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ
وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ﴿۱﴾
لقَدْ

سوګند دی پر انځر او زيتون [ښوون] (۱)

وَطُورِ سِينِينَ ﴿۲﴾

او پر طور سينين (۲)[د سينا پر طور] [= د سينا د طور غر]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ
وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ﴿۱﴾ وَطُورِ سِينِينَ ﴿۲﴾ وَهَذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ﴿۳﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴿۴﴾ ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ ﴿۵﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿۶﴾ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ﴿۷﴾ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ﴿۸﴾

په قرآن کې کابو سل سوګندونه راغلي دي، چې ډېری له دغو سوګندونو د شپې ورځې د مهالونو په اړه دي، لکه وَالعَصر. خو ډېری له دغو سوګندونو قيامت ته دي، له راز راز نومونو سره. له دوی پرته، په نورو زياتو موضوعګانو هم قرآن قسم ياد کړی دی. له هغې جملې کوم قسمونه چې ددې (تين) سورت په پيل کې راغلي دي.

وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ. سوګند په انځر او زيتون [ښوون]. وَطُورِ سِينِينَ. او د سينا په طور، يعنې د سينا غر، هغه ځای چې موسی ته د وحی محل وو. په حقيقت کې په دا ډول سوګند ياد شوی دی چې: او سوګند، له الله سره د موسی د تکليم او خبرو پر ځايګي، يعنې سوګند پر هغه محل چې موسی له خپل خدای او خدای له هغه سره خبرې وکړې.

وَهَذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ. او سوګند پر همدې د امن پر ښار، دا د امن ښار، يعنې د مکې ښار.(دا سورت په مکه کې نازل شوی دی.) په واقعيت کې يعنې سوګند، پر هغه ځای چې تاته په کې وحی نازل شوې ده. نو دلته څلور سوګندونه لرو چې دوه له هغوی يعنې سوګند پر انځر او زيتون، چې دوه مېوې له دوو ونو دي، سوګند پر مادي او جسماني چارو دي او دوه نور سوګندونه يعنی له موسی سره د الله د تکليم پر ځايګي سوګند او بل سوګند د الله پر رسول د وحی د نزول پر ځايګي، سره له دې چې دا سوګندونه پر مادي او جسماني چارو دي خو په اعتباري لحاظ معنوي چارې دي او په حقيقت کې پر دوو معنوي چارو سوګند خوړل شوی دی. اوس دا سوګندونه د څه موخې او مطلب لپاره خوړل شوي دي؟ کوم مهال چې هاغه

مطلب چې سوګندونه د هغه لپاره خوړل شوي دي ذکر کړو ښايي هغه لامل روښانه شي چې دا دوه سوګندونه په مادي او جسماني چارو او دوه سوګندونه په معنوي چارو ورته خوړل شوي. هغه څيز چې دا قسمونه د هغه لپاره خوړل شوي څه څيز دی؟ له سوګندونو وروسته نابېره د انسان د خلقت په اړه بحث پيل کيږي لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ. دا چې موږ انسان په «احسن تقويم» کې پنځولی دی.

اوس بايد دې ته پاملرنه وکړو چې ددې قسمونو، [ددې څلورو سوګندونو]، او له دوي څخه د اخېستل شوې پايلې تر منځ کومه اړيکه شتون لري؟ او ولې الله تعالی د دغو ټولو مېوو له منځه په انځر او زيتون سوګند خوړلی؟ په دغو دوو مېوو کې کومه ځانګړتيا شتون لري؟ آيا له دې لامله چې انځر او زيتون د عربستان په وچه سيمه کې ډېر مهم او ارزښتناک ګڼل کېدل؟

بله دا چې « طور سينين» له عربستان سره څه اړيکه لري؟ هو دا سمه ده چې «بلد امين»، يعنې د مکې د ښار يادونه چې ښکاره او څرګنده ده او دا شوني وه چې د عربو پاملرنه جلب کړي، خود سينا غر څنګه؟ او بله دا چې، د ا قسمونه له دې سره څه اړيکه لري چې موږ انسانان په بهترين حالت کې پنځولي دي؟ «تقويم» د انسان د ودې او کمال د استعداد لوړېدو او پورته کېدو ته اشاره کوي.

دا څرګنده ده او ومو ويل چې،دوه لومړني سوګندونه د نباتاتو په نړۍ پورې اړه لري او دوه نور يې په ځمکه کې په سيمو پورې: د سينا طور او د مکې ښار. دلته ددې نکتې بيا يادول ضروري دي چې معمولاً په قرآن کې د سوګندونو او د هغوی د ځواب تر منځ يوه اړيکه شتون لري، دلته هم دا اړيکه شته. ددې څلورو سوګندونو په توسه ټينګار شوی دی چې الله، د ټولو موجوداتو له منځه، انسان په ډېر د ودې وړ استعداد او وضعيت کې پنځولی او ګومارلی دی. «تقويم» او «قِوام» او «قيام» د کليمې په جرړه کې سره مشترک دي. «قيام» يعنې پورته کېدل، پاڅېدل او ختل يعنې د ټولو مخلوقاتو په منځ کې انسان له تر ټولو ډېر د ودې، تحول او رشد او کمال استعداد لري او ددې مطلب د پوهولو لپاره يې څلور سوګنده خوړلي دي چې ټول په طبيعي پديدو او ښکارندو پورې اړه لري. دوه سوګندونه د نباتاتو په عالم پورې اړه لري او دوه په تاريخ پورې اړه لري، په حقيقت کې ددې وروستيو دوو اړيکه له معنويت سره هم شته.

د مېوو له منځه چې په هاغه موقع کې خلکو پېژندلې او ښايي په ټوليزه توګه د ټولو مېوو له منځه، انځر او زيتون بشپړه ځانګړې او توپيري وضعه لري. د تين [انځر] او زيتون [ښوون]

دوه ونې له هاغې ډلې ونو څخه دي چې د خپل «قوام» موندلي جوړښت له لامله، د خارجي سختو شرايطو پر وړاندې «مقاومې» دي او د چاپېريال د نابرابروالي سره سره، مقوي، او څواک ورکوونکي ځانګړې مېوه او محصول ورکوي چې د ځانګړي درملي او غذايي خاصيت لرونکي دي.

هرو مرو پوهېږئ چې انځر ډېرى په وچو تودو سيمو کې چې لږې اوبه لري، د بېلګې په توګه د افغانستان په جنوب لوېديزو، جنوبي، ختيزو او جنوب ختيزو سيمو کې زرغونېږي، په هاغه وچه او ګرمه هوا کې خپله ښيرازي او شينوالى ساتي او د خپلو محکمو ريښو په غځولو هر ځاى چې لمده بل وي خپل لور ته يې ځکوي. په غرنيو سيمو کې، د غرونو په لمنو کې او د ښوره ناکو دښتو او صحرا په څنډو کې پالنه مومي، تاسو به ډېر ليدلي وي چې د لارو په غاړو د جګو ځمکو په چاودونو کې د لښتو په څنډو کې، انځر په خپله راشنه کېږي او کوښښ کوي خپلې ريښې د اوبو لمده بل ته وغځوي يعنې په لږو اوبو او حتا په نه اوبو وده او رشد کوي. ما پخپله ډېرو ځايونو کې لېدلي چې انځر د ډبرو او خښتو له منځه راشنه شوي دي.

د انځر ونه چې معمولاً په ځينو ځايونو کې ورته د انځر بوټى هم وايي په پرله پسې توګه څو ځله مېوه ورکوي د نورو ونو په څېر نه ده چې يو ځل مېوه ورکړي او بس، بله دا چې ميوه يې هم ټوله خوړل کېږي بلکې پوټکى او زړي يې هم ورسره خوړل کېږى، د انځر مېوه ډېر خوږه او خوندوره ده، درملي جنبه هم لري او يو ډول شربت ترې جوړوي چې د ماشومانو د مزاج په سمون کې کارول کېږي يعنې هم درملي استفاده ترې کېږي او هم غذايي. دا مېوه د ټولو خوښيږي او د هر سن لپاره ګټوره ده. هم تازه خوړل کېږي او هم لکه د توت يا نورو مېوو په څېر وچېږي. تازه خوړل يې ګهيځ د وخته ډېر عام دي. زما يادېږي چې زموږ په سيمه کې [د ننګرهار په روداتو کې] د انځرو پلورل عار ګڼل کېده او په تله کې تلل يې خلکو ته ناسم برېښېدل البته د تازه انځرو څخه د ډک کټولي تحفه ورکول دوستانو، خپلوانو او مسافرو ته ډېر عادي ول. او د چا په شخصي ځمکه کې به چې د انځرو بڼ وو او بل څوک به په کې د انځرو په ټولولو بوخت وو د ځمکې مالک به هغه له ټولولو نه منع کاوه او انځر د هغه چا حق ګڼل کېدل چې ټول کړي به يي ول. البته وسمهال انځر د تجارت لپاره پالل کېږي او هغه پخواني دود مخ په ختمېدو دى.

حضرت علي (رض) په نهج البلاغه کې یوه په زړه پورې تشبیه لري. فرمایي یو شمیر کسان وایي او ګوتنېونه کوي چې: که واقعاً د ابوطالب د زوی دا خوراک وي او علي د ډوډۍ په دوو ټیکلو ځان مړوي، فَقَدْ قَعَدَ بِهِ الضَّعْفُ. دا خوراک خو انرژي نه لري. له داسي خوراک سره خو به له دښمن سره په مقابله کې هغه ضعیف او ناتوانه وي، نو ضعف او کمزورتیا به هغه د رقیبانو او زړورو اتلانو له جنګ او مخامخ کېدو څخه منع کړي عَنْ قِتَالِ الْأَقْرَانِ وَ مُنَازَعَةِ الشُّجْعَانِ د دوو ټیکلو ډوډۍ په خوراک خو نشي کیدی له زړورو او سرتېرو سره مقابله وکړي. حضرت علي د هغوي په ځواب کې فرمایي دوي خبر نه دي چې: إِنَّ الشَّجَرَةَ الْبَرِّيَّةَ هغه ونې چې په وچو دښتو کې وده کوي أَصْلَبُ عُوداً لرګي یې د باغونو له ونو ډېر کلک او محکمتر دي یعنې کومې ونې چې په دښتو کې زرغونېږي، کلکترې او ټینګترې دي. وَ الرَّوَاتِعَ الْخَضِرَةَ أَرَقُّ جُلُوداً او هغه ونې چې په باغونو او د اوبو د لښتو پرغاړو لکه د ولې په څېر، پالل کېږي، او شنې او تازه ونې (چې په باغونو کې اوبول کېږي) پوټکی یې ډېر نازک او لرګي یې هم ډېر نرم او سست دي او په آسانۍ ماتېږي او اور یې هم ډېر دوام نه کوي. وایي چې د ښوره ناکو دښتو او صحرا اغزي او ګیاګانې (چې په للمي توګه یوازې د باران له اوبو برخمن کېږي) ډېر پوخ روښانه او اوږد اور لري. دوي نه پوهېږي چې زما په څېر وګړي هاغه نباتات دي چې په سختو شرایطو کې یې پالنه موندلې او وده یې کړې نو پر دې بنا مقاومت یې ډېرتر او اغیزې یې تر نورو ډېرې زیاتې ګټورې دي. فَقَدْ قَعَدَ بِهِ الضَّعْفُ. عَنْ قِتَالِ الْأَقْرَانِ وَ مُنَازَعَةِ الشُّجْعَانِ اَلا و اِنَّ الشَّجرةَ البَرِّيَّة اصلَبُ عُوداً، و الرَّوائِعَ الخَضرَة اَرَقٌّ جُلُوداً، و النَّباتاتُ البَدَوِيَّةٌ اَقوی وَ قُوداً و ابطأً خُمُوداً [نهج البلاغه ۴۵ لیک]

دا د انځرد ونې ځانګړتیاوې دي، [چې په رښتیني،صادقې، مینه ناکې، او وفادارې ونې نومول شوې ده]. او په زړه پورې دا چې د مېوو ونې معمولاً لومړی ګل کوي او ځان څرګندوي او ننداري ته یې ږدي — چې البته دا ګلان یوازې له لسو یو یې یا کله هم له سلو یو یې مېوه کوي — خو د انځر ونه له هماغه پیله میوه کوي پرته له دې چې ګل څرګند کړي؛ ګل یې هماغه مېوه ده چې نېولې یې ده. له همدې لامله یې ویلي چې صادقه او باوفا ونه ده. د پښتو دا متل به مو اورېدلی وي چې وایي — د انځر ګل شوې — چې معمولاً د هاغه چا لپاره ویل کېږي چې ډېره موده وروسته یې ووینې یعنې د انځر د ګل په څېر نا څرګند یې. مخکې مو اشاره وکړه چې مېوه یې هم هیڅ زاید او د غورځولو څیز نه لري. او د څو مباشتو په اوږدو کې په پرله پسې توګه مېوه ورکوي؛ یعنې له هر ځل مېوې ټولولو وروسته، له سره نوې

مېوه کوي. او ځينې يې د مېوې د موسم له تېرېدو وروسته هم بيا ځلې مېوه ورکوي چې پشکالي انځر ورته وايي. د نباتاتو په عالم کې، دا هغه ونه ده چې له طبيعت څخه د لږ تر لږه مصرف سره زيات نه زيات حاصل، انرژي او ګټه رسوي. او خپل ځان په بشپړه توګه د طبيعت له سختو شرايطو سره برابروي. دا يو مثال دی ددې لپاره چې ځرګند کړي چې وګړي هم کولی شي په سختو شرايطو کې خپل ځان ته تغيير ورکړي او د چاپېريال سره يې برابر کړي. زموږ د مغز او بدن سلولونه دا امکان لري چې له لږ تر لږو امکاناتو او شرايطو څخه ګټه واخلي او خپلې ودې ته ادامه ورکړي.

خو د زيتون ونه، دا سې يوه ونه ده چې د بې آبۍ له شرايطو سره مناسبه نه ده. سره له دې چې د بې آبۍ په شرايطو کې هم وده کولی شي ، د زيتون د ونې مقاومت په بل ډول دی دا ونه د سختو بادونو په مقابل کې مقاومت لري. د زيتون ونه د ډېرو بادونو په مقابل کې سره له دې چې ونه بيخي کږوپه شي حتا له ځمکې سره برابره شي خو نه ماتېږي. يعنې ډډ او لړګي يې دا ډول ارتجاعي او انعطافي حالت لري چې کولی شي د ډېرو سختو بادونو پر وړاندې مقاومت وکړي. په هغو ځايونو کې چې ډېر بادونه لګېږي، کله چې وغواړي دا ونه وکري، څرنګه چې ريښه يې ډېره ژوره نه ده، نو ځمکه ورته کني او يوه ډبرينه تخته ورته په کنل شوې کنده کې ږدي او د زيتون نيالګی د هغې پر مخ ځای پر ځای کوي. او بيا وروسته ورو ورو نيالګی خپلې ريښې ځغلوي او ډبرينه تخته په خپلو منګولو کې ټينګه نيسي. له دې لامله دی چې کولی شي په هغو سختو بادونو کې مقاومت وکړی او چپه نه شي معمولاً دا ونه په ډبرينو غرنيو سيمو کې پالل کيږي،. نو، دا ونه هم په ناسمو شرايطو په لږه خاوره کې په غرنيو ډبرينو سيمو کې، [او نه په آبادو سيمو او يا هغو د ښتو کې چې مېينه خاوره لري]، کولی شي خپلې ريښې د ډبرينو طبقو منځ کې کلکې کړي او له لږې خاورې ډېره ګټه واخلي.

که د انځر ونه له لږو اوبو سره د ودې توان لري، زيتون له لږې خاورې سره زرغونېږي او د توپانونو په مقابل کې ټېکاو او مقاوم پاتې کيږي؛ که د هغه مېوه ډېره خوندوره ده او هم درملي جنبه لري ددې مېوه هم ډېر ژر هضمېدونکي او صافی ترين غوړي ورکوي چې معمولاً د ډاکترانو لخوا يې د خوراک توصيه کيږي، ځکه چې د کلسيم، اوسپنې او فاسفورس د مالګو او «آ» او«ب» ويټامينونو لرونکي دي او غني پروټين لري او سربېره پر دې، صنعتي مصرف هم لري، ځکه چې مخکې له دې چې نفت او نور د سون مواد وپېژندل شي، د زيتون غوړي به يې د څراغونو د روښانه کولو لپاره سوځول.

لکه څنګه چې ومو ويل ددې ونې لرګی هم دومره کلک دی چې مېخ په کې نه ننوځي او د خراطي او لاسې کارونو لپاره مجبور دي هغه په برمه سوری کړي او په چوفتي او ترونې يې ونښلوي. ددې د لرګي اور دوامداره دی او فوق العاده لمبه او سکروټې لري او له دې پرته د فشار او پوچېدو په مقابل کې مقاومت لري. دا هم د يادولو وړ ده چې دا ونه تر زرو کلونو پورې عمر کوي. او هم دا چې قد يې ډېر زيات لوړېږي او لوړوالی يې له ۱۰ تر ۱۵ مترو پورې رسېږي.او هم زيات حاصل ورکوي، چې يوه ونه يې تر دوه سوه کېلو ګرام پورې زيتون ورکوي دا خو يې طبيعي ا و عادي حاصل دی. که دا ونه د هورمونيک موادو په توسه تقويه شي کېدای شي تر دې هم څو چنده حاصل ورکړي. ددې ونې مېوه خوراکي او صنعتي جنبه لري او لرګی يې د منبت کارۍ او خراطۍ لپاره کارول کېږي

د زيتون ونې له حيرانتيا وړ خاصيتونو څخه، د سختو بادونو په مقابل کې ډېر زيات کلکوالی او فوق العاده انعطاف منل دي. په داسې ډول چې دا ونه د ډېرو سختو توپاني او ډاروونکو بادونو په مقابل کې په ډېره آسانۍ مقاومت کوي. چې لامل يې کېدی شي عمدتاً په هاغو غوړو پورې اړه ولري چې د ونې په پاڼو، ډډ، څانګو او ښاخونو کې شتون لري، د څانګو د فنريت او انعطاف وړتيا د همدې مادې په دليل، لامل کېږي چې له دې سره سره د توپان پر مهال چې د ونې څانګې تل ځمکې ته رسيږي او ښي او کيڼ لور ته کږېږي را کږېږي، د هوا له آرامتيا وروسته يوه پاڼه هم ترې نه وي رژېدلې، له همدې لامله سيمه ايز خلک د باد په مقابل کې ددې ونې مقاومت چې په آېروډېناميکي حالت کې يې سرته رسوي «باد ماتوونکی» بولي.

ددې ونې ريښې د تصور پر خلاف دومره پراخې او ژورې نه دي. خو ددې ونې نيالګی د يوې پلنې ډبرې پر مخ د ځمکې په لږه ژورتيا کې کښېنوی چې د نبواک او موتې په توګه خپلې ريښې د ډبرې پر شاوخوا راتاوې او منګولې پرې ټينګې کړي او هم له لمده بل او وروستوالي څخه په امن کې وي ددې ونې ريښې د رطوبت په مقابل کې ډېرې حساسې دي او نه ښايي په اصطلاح اوبو کې ډوبې اوسي. د زيتون ونه له يوه داسې بېخ سره چې زيات نه زيات د ۱،۵ مترو په کچه پراخ وي ډېرې خپرې څانګې او پاڼې کوي چې د کال په اوږدو کې شين زرغون پاتې کېږي.

تاسو به ليدلي يا اورېدلي وي چې د سپين غر په ډبرينو درو او لمنو او مخ په ځوړ خوړونو او درو کې کې د زيتون [ښوون] ونه په طبيعي توګه زغونېږي او وده کوي او د صنعتي کرنې په

توګه خو د ننګرهار د وادي د زيتون فارمونه مشهور دي، ومو ويل دا ونه د سپين غر په لمنو، مخ په ځوړ خوړونو اودرو کې زرغونېږي، يوه مقاومه او محکمه ونه ده چې د ډېرو او ګټو او ستغو ځوړونو کې خپل ځان ساتي او له هاغه رطوبت سره چې له هوا يې اخلي ډېر زيات محصول ورکوي. دا ونه چې وسمهال په ايټاليا، لبنان، ترکيه، ايران او نورو هيوادونو کې هم ډېره زياته کرل کيږي او ګټه ترې اخېستل کيږي، ځايګى يې په قرآن کې د طور غره لمنې معرفي شوي دي:وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ تَنْبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِلْآكِلِينَ [مؤمنين ۲۰]

او موږ پوهېږو چې د طور غر او د سينا صحرا هماغه وچه او محرومه سيمه ده چې حضرت موسى، بني اسرائيل له آل فرعون څخه تر ژغورنې وروسته هغې سيمي ته بوتلل چې د صحرا د ژوند له سختيو او فقر او محروميت سره يې روږدي کړي او د اسارت او غلامۍ د پېر لټي، سستي او تنبلي ، د خپلواکۍ، آزادۍ، عزت او انساني کرامت د پېر په شجاعت او زړورتيا بدل کړي خو هغوى به تل له يوګوني طعام څخه شکايت کاوه او زړونو به يې د ښار د سابو،سبزۍ، ترکارۍ، بادرنګ، هوږې، نسکو او پيازو هوا کوله.

په هر حال، د «تين» سورت دوه ړومبني سوګندونه دا تذکر کوي چې د ګياګانو او نباتاتو په عالم کې هم داسې پنځونې شته چې بهترين «تقويم» لري؛ زرغونېدل، وده کول او رشد او کمال يې مثالي دي. ښه دا شو دا دوه قسمونه.

خو دريم سوګند پر«طور سنين»؛ طور د يو مشخص غر نوم دى او هم له قرآني آيتونو څخه داسې ښکاري چې طور د غره نوم دى چې [ګواکې د اورغورځونې په پړاو] کې د هاغې سيمې له پاسنۍ برخې څخه چې بني اسرائيلو پکې ژوند کاوه [د اورغورځونې په ناڅاپي ښه = رفعنا] راوتلى دى چې د يوه ډار په توګه بني اسرائيلو ته ګواښنه وي:

[نساء (۱۵۴)]ـوَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّورَ بِمِيثَاقِهِمْ وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا......

[بقره (۶۳ او ۹۳)] ـ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ .....

او «سينا»(سينين ) لمن يا دښته ده چې د هاغه غره په وړاندې واقع شوې ده. دا سيمه نه يوازې کلکو او مقاومو ونو لکه زيتون ته پالنه ورکوي(وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ...)، بلکه قوام موندې انسانان هم د هغه په لمن کې د الهي تقرب مقام ته رسيدلي دي. يو له هغوي يو ځوان د موسى (ع) په نامه دى چې ددغه غره او صحرا په زړه کې د سختيو او د سيمي د محروميتونو په متن کې د حضرت شعيب(ع)د پسونو د رمې د اتو کلونو شپانه توب

وروسته، دادی د سخت کار او اجيری د پیړ له تيرولو وروسته له خپلې مېرمنې سره يو ځای له خپل خسر، ښوونکي او روزونکي څخه بېل او د خپلواک ژوند پر لور رهي کېږي، د طور غر له ښي لوری (د نېکمرغۍ او برکت جهت) څخه د الهي ندا مخاطب کېږي:

*وَنَادَيْنَاهُ مِنْ جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا.

[مريم (۵۲)] موږ هغه ته د طور له ښي اړخه آواز وکړ او نږدې مو کړ چې خواله او خبرې مو ورسره کولې.

*فَلَمَّا قَضَى مُوسَى الْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِ آنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّورِ نَارًا...﴿٢٩﴾فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ أَنْ يَا مُوسَى إِنِّي أَنَا اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴿٣٠﴾

[قصص (۲۹- ۳۰)] نو هغه مهال چې موسی (ع) [د شپانه توب] نيته پای ته ورسوله او له خپل اهل سره رهي شو د طور له اړخه يې اور احساس کړ .... نو کوم مهال چې هغه ته ورسېد د ناو له ښي اړخه په نېکمرغه ټاټوبي کې له ونې آواز وکړی شو چې ای موسی بې له شکه همدا زه الله د عالميانو پالونکی رب يم.

*وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا و....

[قصص (۴۶)] او ته (ای پيغمبره) د طور تر څنګ نه وې هغه مهال چې (موسی ته) مو آواز وکړ او ....

نو له دغو دوو سوګندونو وروسته چې د طبيعي ښکارندو په اړه ول، اوس راځو تاريخ ته. له طبيعته تاريخ ته ځو. د سينا طور. «طور» هماغه د طور غر دی. قرآن کې چې په هر ځای کې دا نوم راغلی دی موخه يې هماغه د طور غر دی چې موسی هلته الهی کلام ته مخاطب شو او وحی پرې نازله شوه. «طور» په لغت کې د پيچلي او يو په بل کې د تاو را تاو په معنا دی. د طور سيمه د پېچلو او يو په بل کې د تاو را تاو غرونو لرونکي ده. دا غرييزه سيمه په هغه دوران کې هم، په لمنو کې يې د زيتون ونې کرل کېدې. قرآن وايي:

وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَاء تَنبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْآكِلِينَ.

[مؤمنون (۲۰)] او کومه ونه چې د سينا له طور را ټوکېږي (چې ) له غوړو او (خورشي ) رنګ سره د خوړونکو لپاره زرغونېږي.

يعنې په طور سينا کې ووينئ چې يوه ونه پکې زرغونېږي چې هم يې مېوه د خوراک ده او هم غوړه دانه، زرغونوي: تَنْبُتُ بِالدُّهْنِ. يعنې د زيتون غوړي ترې لاسته راځي چې خوړه يا خورشي ډوډۍ ده د خوړونکو لپاره. «خوړه يا خورش» په واقعيت کې هماغه د غذا چاشني،

ناشتا، یا داسې يو څيز چې له ډوډۍ سره خوړل کيږي. ښه په داسې ټاټوبي کې چې تر دې کچې نا هموار، لوړ او ژور، او وچ سوزوونکی دی تاسو ووینئ چې سربېره پر دې ونو، څه راز انسانانو پالنه موندلې ده. د بني اسرائيلو ډېری پیغمبران، حضرت موسی او حضرت عیسی او نور پیغمبران له دې سیمې راولاړ شوي دي. يعنې په منځني ختيز کې له يوې سيمې. نو په دې توګه دا سيمه د داسې سترو کسانو د څرګندېدو ، ولاړېدو او الوت ټاټوبی دی. کله چې موسی له مصره تښتي، د مَدَين سيمي او د شُعَيب کور ته وارديږي. اته کاله هلته په شپانه توب تېروي، په هاغو سختو شرايطو کې؛ د همدغو غرونو په منځ کې او په همدې سيمه کې. همدا د موسی د شپانه توپ ځای په واقعيت کې د هغه د تعليم او زده کړي ځای دی. رهبري او لارښوونه هم هلته زده کوي. په هاغه وچه او لېرې پرته سيمه کې او د هاغو غرونو او ګټو او ډبرو په منځ کې. له دې وروسته چې رسالت ته مبعوث کيږي او مصر ته بېرته ستنيږي. د هغه ژوند سر تر پايه په نښتو او فشارونو او کشمکش کې تېرېږي؛ له هغه مخکې هم، تر ډېرو کلونو پورې د بني اسرائيلو د شکنجو او وژنو شاهد وو او له رسالت وروسته يې هم د عمر تر پايه د سختيو په زړه کې ژوند کاوه. خو و ګورئ چې هاغه سيمه چې په هغې کې ژوند په دومره سختيو او ستونزو تېرېده داسې وړ او بريالي انسان ته يې پالنه ورکړه او هغه په داسې سختو شرايطو کې وده وکړه. او د هغه د رسالت پسې له هغې سيمې لسګونه، بلکې سلګونه پيغمبران را پورته شول. د بني اسرائيلو په تاريخي بستر کې، لکه د يوسف او يعقوب او نورو سترو هستيو په څېر ټول د هماغو شرايطو محصول دي. موسی او عيسی د مديترانې د بحيرې په غاړو او سواحلو کې يا نورو هوسا سيمو کې ژوند نه کاوه چې ووايو امکانات بايد موجود وي چې انسانان رشد او وده وکړي. نه، دا لامل نه دی. دا سيمه چې د جهان له محرومو سيمو څخه وه د جهان ستر پيغمبران ترې را پورته شول؛ او ټول له سختيو اوستونزو سره اخته ول، هم د هغوی په ټاټوبي کې او هم د خپل ژوندانه په تاريخ کې.

په دې ترتيب دا غر او لمنه يې د يو مستعد ، مهتدي او متقي انسان د قوام موندلو او پخېدلو شاهد کيږي چې الهي کلام ته مستقيم او نيغ په نيغ مخاطب کيږي او د هغې زمانې د بشريت لپاره بشپړ شريعت راوړي. ګواکې ددې سوګند (طور سنين ) اهميت له دې جهته دی چې تر دې مخکې د بشپړې وحی د وړانګو موندلو لپاره دا ډول وړتيا، قابليت او يو «قيام» شتون نه درلود او دا تحول او بدلون د بشر په تاريخ کې د ټاکونکي ګرځېد نښې او د عطف د نقطې په عنوان ګڼل شوی دی. البته تېرو انبياؤ هر يو په خپله ونډه دا ډول وړتيا او قيام څرګند کړی دی، خو د موسی (ع) قيام د نبوت په امتداد کې يو اوچت ټوپ وو.

دادی دا قائم ، استوار او ټېکاو ستر وګړی مأموريت مومي چې د فرعون له تسلط او نېواک څخه د بني اسرائيلو په ژغورلو او نجات، د يو مستضعف امت امامت وکړي او داسې هدف، موخې او مقصود ته يې لاربښوونه وکړي چې د توحيد او تسليم پر لور د قيام او وجودي وتلو څخه عبارت دي. « لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ».

۱ ـ په لومړني آيت کې دوه سوګندونه پر انځر او زيتون دي. معمولاً داسې بربښي چې د مېوې او محصول ورکولو لپاره لازم شرط، اوبو او ابېروره خاورې ته لاسرسی دی. سره له دې چې دا شرطونه د انکار وړ نه دي، خو داسې مقاومې ګياګانې شتون لري چې د لږ نه لږو اوبو او لومړنيو موادو سره د خپل وجود زيات نه زيات حاصل وړاندې کوي. اصولاً سخت او ستونزمن طبيعت او چاپېريال، ونه د کمبوديو له زغم سره روږدې کوي چې په دې توګه خپله وده له خارجي ستونزو سره هم غبرګې کوي.

د تين [انځر] او زيتون [ښوون] دوه ونې هم له هماغه ډلې ونو څخه دي چې د خپل «قوام» [«ټېکاو»] مونډلي جوړښت له لامله، چې د خارجي سختو شرايطو په وړاندې «مقاومې» دي او د چاپېريال د نابرابروالي سره سره، تقويه کوونکې، ممتازه او ځانګړې مېوې او محصول ورکوي چې د ډېرو غذايي او درملي خاصيتونو لرونکي دي. انځر چې د افغانستان په لويديزو او سويل لوېديزو سيمو کې او تر يو بريده په ختيزو سمو کې په ښارونو کې او د دښتو په څنډو کې زرغونېږي، په هغه وچه او ګرمه هوا کې هم خپل تازه والی او زرغونتيا ساتي او د اوږدو ريښو په ځغلولو له لېرې لمده بل خپل لورته څکوي.

زيتون هم چې د افغانستان ختيز ته د سپين غر په لوړو برخو او لمنو کې زغونېږي مقاومه او محکمه ونه ده چې د ګټو او ډېرو له منځه د غرونو په ستغو ځوړو کې د سختو بادونو په مقابل کې خپل ځان ساتي او له هاغه لمده بل سره چې له هوا يې اخلي ډېر حاصل وروکوي دا ونه چې په ډېرو هيوادونو کې لکه ايران، ايټاليا، لبنان، ترکيه او ځينو نورو هيوادونو کې ترې ډېر حاصلات لاسته راوړي، چې له هغې جملې د طور غره په لمنو کې هم زرغونېږي او قرآن کې يې غوړو او هغه رنګ ته چې غذا ته يې ورکوي اشاره شوې ده:
« وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ تَنْبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِلْآكِلِينَ» [مؤمنون ۲۰ (۲۳:۲۰)].
پوهېږو چې د طور غر او د سينا دښته هماغه ده، چه يوه محرومه دښته ده چې حضرت موسی خپل قوم بني اسرائيل له فرعون څخه تر نجات وروسته هلته بوت. چې د سارا د ژوند له سختيواو فقر او بېوزلۍ سره يې روږدي کړي او د مريیتوب او اسارت د پېر او دوران سُستي او تنبلي يې په شجاعت، زړورتيا، آزادۍ، عزّت او انساني کرامت بدل کړي.

۲ ـ خو دريم سوګند پر «طُورِ سِينِين» دی؛ ګواکې «طور» د يو مشخص او ځانګړي غر نوم دی او «سينا» [سينين] يې لمن او يا دهغه مقابله دښته ده. دا سيمه نه يوازې د زيتون محکمه او مقاومه ونه پالي [وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ ...]، بلکې د هغې په لمن کې يو قوام او ټېکاو مونډلی انسان د الهي تقرّب مقام ته

ورسېد. چې د دغه غره او سارا په زړه کې د سیمي د سختیو او محرومیتونو په متن کې کله چې یې د حضرت شعیب(ع ) د پسونو د رمې د اته کاله شپانه توب او سخت کار وروسته له خپلې مېرمنې سره د مستقل او خپلواک ژوند په لور روان شو، د طور غره د ښي اړخ [د برکت او نېکمرغۍ] له لوري ورته الهي ندا وشوه: «وَنَادَيْنَاهُ مِنْ جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا» [مریم ۵۲ (۵۲:۱۹)]،«فَلَمَّا قَضَى مُوسَى الْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِ آنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّورِ نَارًا...» [ قصص ۲۹ (۲۹:۲۸)]، « وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا...» [قصص ۴۶ (۴۶:۲۸)] .په دې ترتیب د طور غر او لمن یې د یو داسې مستعد او متقي انسان د وړتیاو د قوام، ودې او تېکاو موندلو شاهد وګرځېدل چې نیغ په نیغه د الهي کلام مخاطب ، او د بشریت لپاره د یو کامل او بشپړ شریعت موندونکی شو.

---

## وَ هَذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ﴿۳﴾

**او پر دغه امین ښار [امن والا او خوندي ښار]** (۳)

---

خو خلورم سوګند: و هذا البلد الأمين. سوګند پر دغه ښار چې امن پکې برقرار شوی دی. یعنې وروستنی سوګند پر «بلد امین» (مکه) هغه ټاټوبی ځرګندوي چې تل د تاریخ په اوږدو کې، له آدمه تر ابراهیم (ع) او له ابراهیمه تر محمد (ص)، د ځمکې پر مخ د «امن» یوازینی حریم پاتې شوی دی. کعبه چې د «ناس» لومړنی خونه ګڼل کیږي (إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ)[آل عمران(۹۶)]،د روایتونو له مخې د آدم (علیه السلام) له پېره بنا شوې او د بېلارو او ګمراهو ظالمانو له لاسه د تریدلو او ډارېدلو انسانانو لپاره پناه ځای وو. ابراهیم (ع ) چې د انسان لومړنی امام او د مسلمان موحد امت بنسټګر وو، دا خونه یې بیا ودانه او ورغوله او د خاتم النبیین د قیام او بعثت لار یې اواره کړه چې د «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ» بهترین شاهد او نمونه دی.
که د «طور» غر د بشپړې او کاملې وحی او شریعت د لومړنیو وړانګو مکان وو، د «نور» غر [جبل النور – د حراء غار] له ټولو شریعتونو څخه د بشپړترین او کاملترین شریعت د پایانې وړانګو مکان وو.

د مکې ښار حضرت ابراهیم هغه مهال بنا کړ چې هلته هیڅ څیز نه وو. وروسته چې کومې قبیلې هم هلته پیدا شوې ټولو یو تر بله په پرله پسې توګه جنګ او جګړې درلودې. یعنې د خو زرو کلونو په اوږدو کې، دا سیمه د حق او باطل، او د شرک او توحید تر منځ د نښتو او مبارزو ډګر وو. ابراهیم هاغه ځای ودان کړ او زوی یې اسماعیل او د اسماعیل زوزات په

وروستیو نسلونو کې ددغه کور اداره کوونکي شول. په دې ترتیب په مکه کې د شرک او بت پالنې د اډې په وړاندې، د توحید اډه او یو مرکز را منځته شو.

د تاریخ په اوږدو کې تل په مکه کې دا راز تضاد شتون درلود، د نړۍ د نورو ځایونو پر خلاف چې خلکو یې اتحاد، اتفاق او یووالی درلود. لکه څنګه چې ویل شوي دي، پیغمبر له بعثت وروسته، د ۲۳ کلونو په اوږدو کې په منځنۍ کچه، په هرو څلویښت ورځو کې ناچاره له دفاع وو او جنګ ته به کشول کېده. د پیغمبر سراسر ژوند، څه که هاغه ۱۳ کاله ول چې په مکه کې وو او څه که وروسته په مدینه کې ول، ټول له فشار، شکنجې، آزار او تبعید سره تېر شو. لومړۍ هغه ټولیز فرار او مهاجرت په تدریجي توګه له مکې رامنځته شو، او وروسته هم د مکې په لسو کلونو کې، مخالفانو پرېښنوول او د پیغمبر او مسلمانانو پر ضد به یې له ښې او کیڼ لورې دسیسه او توطئه کوله. نو، په همدغه وچه او لم یزرع سیمه کې چې نه پکې خاوره شته او نه اوبه، او هوا یې هم د زغملو وړ نه ده، دا ډول ستر انسانان څرګند شول.

په مکه کې د حق او باطل د تضاد له شتون سره سره اوسیدونکي یې دې نتیجې ته رسیدلي ول چې د کال څو میاشتې د امنیت لپاره وټاکي او د ژوند د ادامې لپاره د کال په څه موده کې جنګ جګړه حرامه وي.او دا ډول دی چې ددغه ښار په سختیو کې او د نسبي «امنیت» په سیوري کې د یو داسې انسان د قیام او پاڅون زمینه او لار برابره شوه چې په بهترین تقویم کې جوړشوی دی چې د ابراهیم (ع) له سپېڅلې تېر او لړۍ او دهغه په دعا او غوښتنه، [رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا...] [بقره (۱۲۸)] د زرګونو کلونو له منځه، یوه ښیرازه او بریالي نبالګي سر راوایست او د «قم فانذر» فرمان یې وموند. او د هېښتیا خبره خو دا چې دې سړي هم لکه د موسی (ع) په څېر خپل د شپانه توب پېر په دښتو او صحرا او د غرونو په لمنو کې تېر کړ او لکه د هغه په څېر، [چې په کوچنیتوب کې د کورنۍ له مینه ناکې غیږې لېرې شو او د ځوانۍ پېر یې د فرعون له وېرې په در په درۍ، بېوزلۍ، فقر او محرومیت کې په «مَدْيَن» کې تېر کړ] له هماغه ماشومتوبه له یتیمۍ، فقر، بېوزلۍ او محرومیت سره او د صحرا او دښتې له ژوند سره آشنا شو. هاغه څه چې د دغو دوو پیغمبرانو د ژوندانه په بهیر کې تر سترګو کېږي، سختۍ، مصیبتونه او ستونزې دي چې تل پرې دوځار ول او د هغوی په متن کې یې خپل بالقوه استعدادونه او وړتیاوې فعلیت ته ورسولې.

په دې توګه د مکې وچه او سوځوونکې سیمه چې د هر ډول کر کېلې له استعداد او وړتیا نشتمنه ده.(وادٍ غير ذی زرع)د خپلو سختیو او محرومیتونو په زړه کې، همدا چې د نسبي

امنيت لرونکي ده (بلد الامين )، يو قوام موندي پوخ انسان لکه «محمدامين (ص)» ته پالنه ورکوي. په زړه پورې دا چې د طور غر هم قرآن په څو ځايونو کې د اَيمن (ښی اړخ) له صفت سره چې د برکت او نېکمرغۍ په مفهوم دی معرفي کوي:

«وَنَادَيْنَاهُ مِنْ جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ...» [مريم (۵۲)] «... وَوَاعَدْنَاكُمْ جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ...» [طه (۸۰)] «...نُودِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ...» [قصص (۳۰)]

او په همدې وادي کې حضرت موسی ته له ډار څخه ډاډ او «امنيت» ښنل کېږي. (...أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ إِنَّكَ مِنَ الْآمِنِينَ ) [قصص (۳۱)].

نو دا دوه مثالونه څرګندوي چې له ډېرو لږو امکاناتو سره په څومره کچه کېدی شي د کار محصله او پايله، سرعت او ځغاسته ډېره وي. که تاريخ ته په غور پاملرنه وکړئ وبه وينئ چې له کومو سيمو څومره ميړني او تکړه کسان اوچت شوي دي.

سوګند پر دوو ونو «تين» او «زيتون» او پر دوو سيمو «طور سينين» او «بلد الامين» او د ونې له ځمکې سره او د ځمکې له انسان سره اړيکه ، د فتح سورت وروستنی آيت په ذهن کې ژوندی کوي چې د «بلد الامين» په بستر کې وده موندي [محمد (ص) او ورسره مل مؤمنين] يې لکه د طور سينا په بستر کې د وده موندو [موسی او عيسی عليهم السلام او دوی ته د رښتينو مؤمنينو] په څېر له ښېرازه او بريالي نبات په څېر چې د خپل بوټي سر يې له ځمکې را ايستلی او د سختۍ پر تنه او ډېر له استوارۍ او کلکېدو وروسته ټېکاو شوی دی تشبيه کوي: مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ... ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ... [الفتح (۲۹)]

هاغه څه چې له دې څلورو سوګندونو څخه د ( لقد خلقنا الانسان فی احسن تقويم ) له ځواب سره په تړاو نتيجه اخلو، هماغه د انسان د بالقوه استعدادونو وده او غوړېدا ده او په سختترينو شرايطو کې د لږ تر لږو توکو سره د ايمان د اصلي ساقې او ډېر قايمېدل او د ټېکاو، استوارو او ښېرازو خرانګو راوتل دي.

---

۳ ـ او په پای کې وروستنی سوګند پر « الْبَلَدِ الْأَمِينِ» [مکه] داسې يو ټاټوبی څرګندوي چې د تاريخ په اوږدو کې په پرله پسې توګه، له آدمه تر ابراهيم (ع) او له ابراهيمه تر محمد (ص)، د ځمکې پر مخ د «امن» يوازينی حريم وو. کعبه چې د «ناس» [خلکو] لومړنی کورګڼل کيږي:

[إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ- آل عمران ۹۶(۳:۹۶)]، د روايتونو له مخې د آدم (ع) له وخته د ګمراهانو او ظالمانو څخه د تښتېدلو انسانانو لپاره د امن کور وو. ابراهيم چې لومړنی امام او د مؤحد مسلمان امت بنسټګر وو، دا د امن کور يې بيا ودان کړ او د خاتم النبين قيام او بعثت ته يې چې غوره شاهد او نمونه دی، زمينه برابره کړه. که د «طور» غر د بشپړې او کاملې وحی او شريعت د لومړنيو وړانګو مکان وو، د «نور» غر [جبل النور – د حراء غار] له ټولو شريعتونو څخه د بشپړترين او کاملترين شريعت د پاياني وړانګو مکان وو.

او په دې ډول دی چې د دغه ښار د «امنيت» په سېوري کې، د هاغه انسان د قيام زمينه برابره شوه چې په بهترين «تقويم» کې جوړ شوی او د ابراهيم (ع) له سپېڅلې نسله او د هغه په دعا او غوښتنه، له زرګونو کلونو تېرېدو ورسته يو برور، برېالي او تر او تازه نيالګې سر را وايست، او عجيبه خو دا چې دې سړي هم لکه د موسی (ع) په څېر د شپانه توب دوره په دښتو او سارا او د غرونو په لمنو کې تېره کړه او له هماغه کوچنيتوبه له يتيمۍ، فقر، محروميت او د سارا له ژوند سره آشنا شو. هاغه څه چې له هر څه زيات د دغو دواړو پيغمبرانو په ژوند کې سترګو ته راځي، سختۍ، مصيبتونه او ستونزې دي چې د هغوې په متن کې يې خپل بالقوه استعدادونه فعليت ته ورسول.

په دې ترتيب د مکې وچې او سوزونکي خاورې چې د هر راز کر کېلې له استعداده نشتمنه ده «بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ» ابراهيم ۳۷ (۱۴:۳۷)]، د خپلو محروميتونو او سختيو په زړه کې، همدا چې د امنيت لرونکې وه [الْبَلَدِ الْأَمِينِ]، د «محمد امين» (ص) په څېر يو ټيکاو او «قوام» مونډی انسان وپاله.

---

## لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴿۴﴾

**په تحقيق او بې له شکه چې انسان مو د [استعداد] سمونې په ډېر غوره جوړښت [او بڼه] کې پنځولی دی (۴)[=ودې او تکامل ته د پورته کېدونکي استعداد والا]**

---

اوس کومه نتيجه چې ترې اخېستل کېږي څه ده؟ يعني قَسَمونه د کوم پيغام لپاره ياد شوي؟ لقد خامخا، حتماً، داسې ده بله نه ده. خَلَقْنَا الْإِنسَانَ. موږ انسان خلق کړی [پنځولی] دی. څه ډول؟ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ. په«احسن» يعني تر ټولو ښکلې او غوره، بهترين او تر ټولو ښه «تقويم» کې. «تقويم» د «قَوَمَ» د تفعيل له بابه دی. يعني د رشد، ودې، کمال، اوچتېدو حالت. يعني تقويم د يو څيز په مناسبه بڼه برابرول، او معتدل نظام او وړ کيفيت دی، د مفهوم پراخوالی يې دې ته اشاره ده چې الله تعالی انسان له هر ليده موزون او وړ پنځولی دی هم له

جسمي اړخه او هم له عقلي او روحي اړخه؛ ځکه چې هر راز استعداد يې د هغه په وجود کې ځاى پر ځاى کړى دى، او هغه يې د ډېر ستر صعودي قوس طى کولو ته چمتو کړى دى.

د خلق د مطلب د پوهېدو لپاره د سريزي په توګه په لاندې ډول توضيح کېږي دا چې: د الهي صنع او بشري صنع تر منځ توپير دى. الهي صنع؛ خلقت، پنځول او رامنځته کول دي، خو بشري صنع؛ خلقت او پنځول نه دي، بلکې د مخلوقاتو تر منځ ارتباط ورکول او پيوندول دي. يو مهندس يا معمار يا بنا چې يوه ودانۍ جوړوي، يا يو ترکاڼ چې يو مېز جوړوي، يا يو فرش اوبدونکى چې يو ټغر يا غالۍ اوبي، يا يو موټر جوړوونکى چې يو موټر جوړوي هيڅ يو له دوي د کوم څيز خلق کوونکى يا پنځوونکى نه دى، بلکې په خلق شوو او پنځېدلو څېزونو کې يو څه تغيرات رامنځته کوي او هغوي له يو بل سره نښلوي او پيوند ورکوي. لرګى، ترکاڼ نه دى خلق کړى بلکې لرګي شتون لري د ترکاڼۍ وسايل او توکي هم ترکاڼ نه دي پنځولي، خو د ترکاڼ هنر د وسايلو په توسه د لرګو د ټوټو تر منځ په ځانګړي توګه له پيوند کولو سره په پايله کې ميز جوړوي. د بنا او فرش اوبدونکي او د موټر جوړونکي په اړه هم مطلب په همدې ډول دى.

کله چې يو انسان يو څيز ( مثلاً ) يوه ودانۍ جوړوي، کار يې قوام، متې، نظامونه او بنسټونه لري ( مثلاً د يوې ودانۍ بنسټونه او بنسټيز جوړښتونه ) چې ددې کار رکنونه دي، او همدا راز نور توکي لرى چې د بنسټيزو توکو برخه نه دي ( مثلاً د يوې ودانۍ ګچ چارې او رنګول ). خو د الله په اړه چې کله وايو ( الله يو خلقت ته قوام ورکړى ) په دې معنا نه دى چې مثلاً د بشر په څېر يې راز راز توکي له مختلفو ځايونو راوړي او هغه يې له يو بل سره پيوند کړي. الله خالق دى پنځوونکى دى د «الهي تقويم» معنا داده چې: الله چې يو موجود خلق کوي، له يو لړ استعدادونو او امکاناتو سره يې پنځوي.

قرآن په څو ځايونو کې تصريح کړې چې انسان د مخلوقاتو بشپړ او کاملترين دى. يو له هغوى همدغه د تين په سورت کې دى «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ» موږ انسان په نېکوترينو او تر ټولو ښکلو قوامونو او بنسټونو او رکنونو کې پنځولى دى. د «قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنونَ» په سورت کې هم هغه مهال چې د انسان د خلقت پړاوونه بيانوي، په پاى کې فرمايي: «...ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ... » [بيا مو هغه ته بل تخليق وباښه يعني بيا مو هغه بل څيز کړ ]. ګواکې غواړي ووايي [دا پړاو،] زياتي نور تاسوته د تعريف وړ نه دى. دې ځاى ته چې

رسيږي فرمايي: [... فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ]. ګواکې فرمايلې يې دي: آفرين پر الله پرداسې نيکو او وړ پنځګر چې دا ډول يو مخلوق يې پنځولی دی! ګواکې الله تعالی چې کله انسان پنځوي؛ خپل ځان ته آفرين وايي؛ يعنې نور له دې اوچت تر موجود د تقويم او استعدادونو له نظره، امکان نه لري.

د قرآني آيتونو په اشاروکې او څه په ژبه اخبار او روايتونو کې، دا مطلب راغلی چې د انسان خلقت ځانګړی خلقت دی. تر ټولو اوچت تر د لومړني آدم خلقت دی چې الله تعالی د هغه په اړه فرمايي: «...وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي...»؛ يعنې ما له خپل روحه په هغه کې پُو کړ، بيا مې ټولو پرښتو ته وويل هغه ته سجده وکړئ په ځينو نورو آيتونو کې فرمايي: هاغه روح چې موږ پوُ کړی لومړني آدم ته ځانګړی نه دی، بلکې ټولو انسانانو ته له هاغه روح پُو شوی دی.
نو دا پخپله د انسان د خلقت په اړه يوه مسئله ده چې قرآن؛ انسان د نهايي امکاناتو او استعدادونو له نظره، د موجوداتو بشپړترين، کاملترين، عاليترين، نېکوترين او وړترين موجود ګڼي.

اوس آيا انسان له جسماني پلوه په احسن تقويم کې دی که له روحاني ليده؟ ځواب دادی چې: په هغه معنا چې وبه ويل شي، هم له جسماني ليده او هم له روحاني ليده. البته دا چې وايو «له جسماني ليده» مطلب دا نه دی چې د انسان جسم او هيکل يا بڼه د ښکلا پېژندنې له ليده مثلاً له آس يا طاووس څخه ښکلې ده، بلکې مقصد دادی چې د فلسفيانو په اصطلاح د تر ټولو معتدل مزاج، [انسان ته ځانګړی دی.] فلسفيان وايي: هر يو موجود چې هر يو حالت نيسي د هاغه ترکيب په ډول پورې اړه لري چې د هغه په وجود کې شتون لري. که يو موجود د ګياه بڼه نيسي او د ودې وړتيا لري او بل يو موجود چې جماد دی او د رشد وړتيا نه لري، [له دې لامله دی چې] د دغه نباتي موجود ترکيب د هاغه [جمادي] موجود له ترکيب څخه متعادلتر دی. همدا راز هر نبات چې له بل نبات څخه پرمخ تللی ژوند لري له دې لامله دی چې ترهغه بل زيات پرمخ تللی اندام لري، يعنې نسبتًا متعادلتر ترکيب لري. بيا حيوان له نبات څخه متعادلتر ترکيب لري او پخپله حيوانات هم يو تر بله توپير لري. تر هاغې چې انسان ته رسيږي، د انسان ترکيب (همدا بدني ترکيب يې) د عناصرو د مجموعې ترکيب له ليده، معتدل ترين يو ترکيب دی چې په کايناتو کې رامنځته شوی دی. که په دې بدن کې الهي روح پيدا کيږي بې لامله او بيهوده نه دی؛ يعنې داسې نه دی چې امکان لري دا روح د آس په اندام کې يعنې په هماغه له طبيعي ترکيبونو څخه په يو بل ترکيب کې ځای پر ځای کړي خو

اوس يې په دې ترکيب کې ځای پر ځای کړی دی، بلکې اصلاً د طبيعي ترکيباتو تر منځ هيڅ يو ترکيب [د انسان له بدن پرته] شتون نه لري چې وکولی شي د انساني روح ځاله، ځايګی او ټاټوبی شي. له دې ځايه پوهېدای شو چې څلور سوګندونه چې دوه په مادې چارو دي او دوه يې په اعتباري لحاظ په معنوي چارو دي. انځر او زيتون دوه مادي ځيزونه دي چې پرې قسم خوړل شوی دی، او د موسی د تکليم ځای او پر محمد خاتم النبين د وحی د نزول ځای د معنوي چارو لېږدونکي دي غواړي ووايي چې موږ انسان هم له مادي اړخه او هم له معنوي اړخه په احسن تقويم کې پنځولی دی

له بل پلوه لکه څرنګه چې له هغې خاورې او اوبو دا ډول بهتر نباتات راوتلي او رشد يې کړی دی، اوچت شوي دي په هاغه وچه او غرنۍ خاوره کې هم دا ډول له بهترينو، بهترين انسانان روزل شوي دي. له دغو بېلګو او شواهدو سره چې په طبيعت کې شته، وينۍ چې له وچو څخه تر ټولو وچې ځمکې تر ټولو غوره او بهترينې مېوې زرغونې کړي دي او په حاصل يې راوړي دي، دا پاملرنه لاسته راځي چې انسان هم، چون د قيام په بهترين استعداد کې پنځېدلی دی، کولی شي په ډېرو سختو او ستونزمنو شرايطو کې روزنه او پالنه ومومي الوت وکړي او خپل ځان عالي ترينو، اوچتو او لوړو درجو ورسوي. الله تعالی دا استعداد د انسان په خټه او تومنه کې ايښی دی، څکه چې الله تعالی له خپله روحه پکې پُو کړی دی: «...وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي...» [حجر (۱۵) او ص (۷۲)] نو انسانان، د الهي صفتونو د کسبولو او خپلولو له لامله او کوم اختيار او اراده او آزادي چې لري، کولی شي تعالي او اوچتوالی پيدا کړي. ومو ويل چې دا استعداد بل هيڅ موجود نه لري. الله تعالی دا اختيار بل هيڅ موجود ته نه دی ورکړی. البته قرآن ويلي چې هغه يې ټولو آسمانونو او ځمکې او غرونو ته وړاندې کړ، خو هيڅ يو موجود د ارادې او اختيار د منلو او قبلولو د ذاتي او فيزيولوژيکي ځواک لرونکی نه دی: «إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ»[احزاب (۳۳)] دا امانت موږ ټولو ته عرضه کړ، ځمکې ته، غرونو ته او اسمانونو ته، خو هغوی ونشو کولی ددغه امانت پېټی ولېږدوي، يوازې انسان دداسې يو امانت د منلو او قبلولو ځواک درلود. د فکري او مغزي ځواک او د هغه د وجودي سلولونو د پېچلتوب او ودې له ليده يا هر څه چې ورته واياست .

نو ددې سورت لومړنيو آيتونو ته د «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ» ځواب، د راپورته کېدو او ولاړېدو (قيام) او د «اعلی عليين» مقامونو ته د عروج او د انساني کمال اوچتې

ځوکې ته د اوچتېدو لپاره د انسان د قوام موندو او پخو استعدادونو وړتيا ځرګندوي. دا خو موږ ته ځرګنده شوه چې د ټولو نباتاتو او حيواناتو له منځه يوازې انسان دی چې الهي روح په هغه کې پُو شوی دی او د «اختيار» د پېرزوينې په مرسته يې د دا ډول لوړتيا وړتيا موندلې ده. د «اختيار» پايله او نتيجه، ټاکنه او «انتخاب» دی او د انتخاب لازمه، په لارو او روشونو کې تنوع او راز راز والی دی. پر دې بنا صعود او لوړتيا د انسان يوازينی انتخاب نه دی، د سقوط او غورځېدنې لار هم د هغه پښو ته کارل شوې ده چې په خپل اختيار او خوښه يوه لار غوره او پر مخ واخلي. په دې ترتيب انسان لکه د اوسپنې په څېر چې د مقناطيس د دوو قطبونو تر منځ واقع وي، د جاذبې د دوو ډګرونو تر اغېز لاندې دی [چې هغه له دوو مخالفو لورو خپلې لور ته کشوي]. لومړنی قطب هغه مرکزي ټکي (د کايناتو خالق او پنځګر) ته کشوي او په محدوده شعاع او حريم (حدود الله) کې يې ساتي، او بل قطب هغه له دې محدودې خروج او وتلو ته او د هغې له موازينو طغيان او سر غړونې ته او له حريمه يې لېرې کېدو ته کشوي. دا دوه ځواکونه، هماغه د تقوی او فجور دوه متضادې انګېزې دي چې الله تعالی دواړه يو تر بله مل او جوړه په غبرګولي توګه د انسان په نهاد او جرړه کې الهام کړي دي (فالهمها فجورها و تقويها) [شمس (۸)]، «تقوی» د الهي جاذبې په ډګر کې د طغيان په مقابل کې بريک او د انسان تموونکی ځواک دی او «فجور» د طغيان او سرغړونې سريزه او له الهي بريد او حريم څخه د خروج او په شيطاني جاذبه کې د دخول ځواک دی.

---

۴ ـ لکه څنګه چې معمولاً د هر سورت د لومړنيو سوګندونو او د هغوی د ځواب تر منځ يوه اړيکه شتون لري، د تين سورت د سوګندونو په اړه هم کولی شو د هغه له نتيجې « لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ » د سوګندونو د مفهوم د پوهېدو لپاره استفاده وکړو.

د « تقويم» کليمه چې د «قيام» له ريښې ده، او د انسان په وجود کې هغه زمينه او استعدادونه ځرګندوي چې کولی شي د ودې او کمال په لور د هغه د ولاړېدو [قيام] لامل شي، په داسې ډول چې د عالم له مخلوقاتو هيڅ يو دا راز استعداد او چمتو والی نه لري.

هغه چې له دې څلورو سوګندونو د ځواب [لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ] په اړه نتيجه اخلو، د انسان د بالقوه استعدادونو د ودې او غوړېدا او د هغه د سمسورو، استوارو او کلکو ځانګو راوتل او په سخترينو شرايطو کې د لږ تر لږو امکاناتو سره د ايمان د اصلي تنې قايمېدل او اوچتېدل دي.

د «تين» او «زيتون» په دوو ونو او د «طور سينين» او « بلدالامين» په دوو سيمو سوګند، او د ونې اړيکه له ځمکې او د ځمکې له انسان سره، د فتح سورت وروستی آيت را په زړه کوي چې: د «بلدالامين» په بستر

کې وده موندو [محمد (ص) او له هغه سره مل مؤمنين] يې لکه د سينا په بستر کې د وده موندو [ د موسی او عيسی عليهم السلام او رښتيني مؤمنينو] په څېر د يوې بروري ګياه سره چې د خپل بو ټی سر يې له ځمکې را ايستلی او له استوارۍ او تنومندۍ وروسته يې په خپلې تنې استوار او ټيکاو کړی، تشبيه کوي:
« مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ .... ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ .....» [فتح ۲۹ (۲۹:۴۸)] .

---

## ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ ﴿۵﴾

## بيا مو هغه [د غورځېدنې له پړاوونو]له ټيټو څخه ټيټ[د پړاو جاذبې] ته ور وګرځاوه(۵)

---

اوس، هغه انسان چې له داسې استعداد سره پنځول شوی دی او د ودې او رشد د عالي ترين امکان لرونکی دی، له هغه سره مو څه وکړل؟ ثُمَّ، وروسته، وروسې، نه سمدلاسه. ثُمَّ يعنې د زمان په اوږدو کې، يعنې په تدريج. رَدَدْنَاهُ ببرته مو وګرځاوه او رد مو کړ. چرته؟ أَسْفَلَ سَافِلِينَ. « اسفل سافلين» ته. «أسفل» يعنې ټيټ ترين او«سافلين» يعنې هغوی چې له ټيټ ترينو ټيټ ترين دي

ښه، نو اوس کېدای شي دا پوښتنه رامخته شي چې دا يعنې څه؟ الله خپل بشپړ او کاملترين موجود خلق کړی او پنځولی او بيا يې هغه أسفل سافلين ته غوځار کړی دی! آيا واقعاً موږ أسفل سافلين ته غورځول شوې يو؟ دا خو له عقل سره نه جوړېږي.

فرض کړئ يو هنرمند يوه ډېره ښکلې مجسمه جوړه کړي يا يوه بې سارې تابلو وکاږي، بيا دا اثر، ددې پر ځای چې د خلکو نندارې ته په يو ښه او بهتر ځای کې کېږدي، په يوې کنډرې کې يې يوه ګوټ ته وغورځوي. انسان د الله د بهترين او عاليترين صُنع او مخلوق په توګه قاعدتاً بايد غوره او بهترين مقام او ځايګی ولري، نه دا چې أسفل سافلين ته وغورځول شي. دلته مطلب څه دی؟

«رددناه»، «رَدّ» د «رجوع» مقابل کې دی. ړومبنی له طبيعي او وړ حالت او وضعې څخه نامناسب حالت ته دی او دويمی پر عکس: «إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ.» [بقره (۱۵۶)] موږ د الله پر لور د ستنېدو په حال کې يو. انسان د الله پر لور رجوع کې (الينا ترجعون) په واقعيت کې د خپل فطري او وجودي جوړښت سره متناسب حالت او وضعې ته ستنېږي. زموږ

«رَجعَت» د الله پر لور دی يعنې موږ د خپل نقص، ناتوانۍ او نارسۍ له پړاوه د الله پر لور رشد، وده او کمال مومو. معمولاً د هر څيز رجوع يو څيز يا ځای ته له هغه سره متناسبه ده. نو، د هغه په لور زموږ رجعت او ستنېدنه، مخ په پورته يو حرکت او يون دی. خو «رَدّ» د رجوع ضد دی. يعنې پرعکس دی او له لوړ مقامه مخ کښته او په ځوږ تګ دی. يعنې له اوجه، حضيض ته.

د تمثيل او تشبيه په مقام کې د مسئلې په دقيقه او ژوره توګه د پوهېدو لپاره او ددې لپاره چې دا موضوع ښه توضيح شوي وي، د بېلګې په توګه د لوبو له توکو او سامان څخه يوه الوتکه په پام کې ونيسئ چې ماشين ولري او هغه ته د ريموټ کنټرول په توسه پرواز ورکوي. کولی شو د تفريحي او لوبو کوچنۍ الوتکې ننداريې ته کښنو چې د بام له لوړتيا يا له کوم بل لوړ ځايه يې خوشې کوي، چې الوت وکړي. په دې الوتکه کې ځای پر ځای شوو تجهيزاتو او توکو، د آسمان په فضا کې د هغه د الوت استعداد او وړتيا برابره کړې ده. خو که د هغه کنټرول کوونکی و نه شي کولی په سمه توګه له دغو دستګاهو استفاده وکړي چې هغه د آسمان لور ته هدايت کړي، او يا ماشين يې روښانه نه شي سقوط کوي او غورځيږي.يعنې ډېر ژر الوتکه د ځمکې د جاذبې په ځواک مخ په ښکته ميل کوي او په بېړه ناک «تدريجي» سرعت (ثم رددناه) سقوط او نشت ته کشول کيږي. سقوط يې هم تصاعدي سرعت لري او تل په پرله پسې توګه زياتيږي او په اصطلاح يو تعجيلي حرکت دی او د جاذبې د قانون مطابق، هر څومره چې ځمکې ته نژدې کيږي ډېره بېړه او شتاب اخلي، تر هغه چې پر ځمکه ولګيږي او ټوټه ټوټه شي. خو، لکه څنګه چې مو وويل، د ماشين روښانه کېدل يې کولی شي د هغه له سقوطه مخنيوی وکړي. موږ هم لکه د هماغه الوتکې په څېر جوړ شوی يو، له ډېر غوره او عاليترين او مجهز ماشين سره چې کولی شي سرعت واخلي او پورته لاړشي. دا ماشين زموږ په وجود کې دننه دی. موږ يې هم زموږ د جنت له هماغه لوړ او انساني رفيع مقام څخه را خوشې کړي يو. چرته؟ د أسفل سافلين په لور؛ خو نه پر ځمکې لګېدو لپاره ددې لپاره چې په پرواز راشو او هسک شو، اوج ونيسو، البته دا په هاغه صورت شوني ده چې: که خپل ماشين روښانه کړو. په دې منځ کې هم داسې ځای نشته چې پاتې شو، نو ځکه له ډېر تېز شتاب سره او له تصاعدي سرعت سره به سقوط وکړو. چې البته د انسان د وجودي جوړښت توپير له الوتکې سره په دې کې دی چې انسان په الوت کې خپل ځان جوړوي او خپل انساني ماهيت په تدريج ورو ورو له اوج نېولو او اوچتېدو سره لاسته راوړي.

دا مثال کولی شي د «ثم رددناه اسفل سافلين» چاپېريال انځور کړي، «ثم»، ددغه سقوط د شتاب تدريجي والی څرګندوي. «رددناه» چې په ماضي بڼه بيان شوی دی، د سقوط جاذبې ته دانسان پيليز سپارل او خوشې کېدل بيانوي (فالهمها فجورها....) او په پای کې «اسفل سافلين» د ټيټ شوو تر ټولو ټيټ مقام څرګندوي چې له انساني لوړ مقامه د انسان په بېړه ناک سقوط او غورځېدا تحقق مومي. نه بريښي چې داسې مقام او مرتبه له واقعيته په خارج عالم کې عيني شتون ولري، بلکه د ملکوت له عالمونو څخه ساقط شوی انسان دی چې هغه ته عينيت ببښي او له همدې لامله يې د «سفلی» پر ځای د «سافلين» فاعل اسم کارولی دی (همدا راز د «عليين» مقام په اعلی عليين کې دی ).

د انسان د صعود او سقوط او د هغه د قيام او قعود تېر مهالې يادونه، له جنت څخه د آدم د هبوط داستان را په زړه کوي. الهي مشيت په دا ډول مقرر شوی وو چې دا «مختار» موجود د جنت په امن او آزاد چاپېريال کې هستوګن شي او له هر څه چې غواړي په پراخه توګه برخمن شي، خو د آدم عصيان او سرغړونه له هاغه مقامه، منزل، مرتبې او پوړ څخه د هغه د سقوط لامل شو او په ځمکه کې هبوط ته محکوم شو چې ببا ځلي دخپلې ارادې او «اختيار» په ځواک او له هاغو ځواکونو او وړتياو سره چې الله تعالی د هغه په خټه او جوړښت کې ځای پر ځای کړي او پېرزو کړي دي، له هاغه مقامه سقوط، د ايمان او صالح عمل له صعود سره جبران کړي او د ځان جوړونې، تزکيه او سپېڅلتيا په توسه په جنت کې د ببا هستوګن کېدلو وړتيا لاسته راوړي. [بقره ۳۶ ـ ۳۸]

«فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ وَ قُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَ لَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ﴿۳۶﴾. فَتَلَقَّى آدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴿۳۷﴾. قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴿۳۸﴾.»

خو [له دې ګواښنې او خبر تيا وروسته] شيطان دوی دواړه [په ژمنه کې له پايښته] وښويول، نو [په دې توګه] له هاغو شرايطو چې پکې اوسېدل دواړه يې و ايستل او موږ ورته وويل: [له جنته] کوز شئ، په داسې حال کې چې [له شيطانه په پليونۍ] يو د بل دښمنان شوي ياست او تاسو لپاره به پر ځمکه تر يوې ټاکلې مودې پورې [= د عمر تر پايه] هستوګنه او [له دنيايي رزقه] برخمنتيا وي. نو آدم [پر ځمکه تر مېشتېدو وروسته] له خپل پالونکي رب څخه څه کليمې ومونديې؛ [او له ځان خبرۍ او پښېمانۍ سره يې توبه وکړه]، نو الله هم د هغه توبه ومنله [= پر هغه په لورينه راوګرځېد]، ځکه چې الله ډېرلورالند توبه منونکی دی. ومو ويل:

تول [=بني آدم] له هاغه [جنتي چاپيريال] راکوز شئ او [په ځمکنۍ مسافرۍ کې] تاسو ته به تل پرله پسې له خپلې لورې يو هدايت درلېږم، نو هغه څوک چې پليوني ترې وکړي، نه به پر هغوی ويره وي او نه به غمجن شي.

د طه سورت ۱۲۳ آيت او د اعراف سورت ۲۶ آيت هم ددې «هبوط» حکايت بيانوي.

دا راز يو هبوط يوازې د «آدم» په داستان او ځمکې ته په تبعيد پورې اړوند نه دی، بني آدم هم، که هر مهال د نعمت او کرامت قدر او کچه ونه پېژني، او لکه د آدم په څېر سرغړونه او «عصيان» وکړي، مضاعف او غبرګ هبوط به يې کړی وي او په ورزيات ذلت، بېوزلۍ او تش لاسۍ به اخته شي. قرآن د داسې سرليک څرک د بني اسرائيلو له ناشکرو انسانانو څخه ورکوي. چې په صحرا کې د ژوند د استقلال او آزادۍ قدر يې ونه پېژاند چې له فرعوني تهديدونو او د طاغوت د ډار او ذلت له رسوباتو څخه د پاکېدلو، او د شخصيت موندلو او جوړېدلو لپاره وسيله وه، او له ګېډې پالنې سره د واحد طعام په ترک کولو، او ډول ډول طعامونو ته په تمه کولو، ښاري ژوند ته«هبوط» وکړي چې د ډېرو امکاناتو لرونکی دی خو د صحرا د انسان جوړونکي زمينو څخه نشتمن دی: ... اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ ...[ بقره (۶۱)].

...کوم يو ښار ته هبوط وکړئ! هلته ستاسو لپاره هغه چې غواړئ شته او پر هغوی [دصحرا د غوره او جوړوونکو شرايطو، ژوند د پرېښوولو او مادي تمو او ساعت تېريو ته په تن ورکولو له لامله] خواري او بېوزلي مسلط کړی شوه او د الله له لور په غضب اخته شول ....

په زړه پورې دا چې آدم هم د «خوراک» په ښوېدن ځای کې د غنم په تمه سقوط وکړ.

او دا ډول دی چې د «انسان «هبوط» هم لکه د هغه د صعود په څېر تلپاتې او لايزال دی او اعلی عليين او د اسفل سافلين په دوو لورو کې حرکت د تقوی يا فجور د ځواک په توسه په همدې ډول ادامه لري.

يو انسان هغه مهال د الهي رضوان او رحمت لياقت او وړتيا لاسته راوړي چې پخپله اراده، خوښه او انتخاب او اختيار له شيطاني جاذبې څخه الهي جاذبې ته داخل شي او زيات نه زيات د هغې سرچينې ته نږدېوالی وکړي همدا سعی او هڅه ده چې د هغه قوام موندی وجودي ساختمان ( لقد خلقنا الانسان فی احسن تقويم ) هغه د الهي رنګ پر لور (الی المصير) قيام او غوړېدا ته هڅوي او سموي او که نه، د پرښتو په څېر چې له يو مخې د

کايناتو د پالونکي رب په تقديس او تسبيح بوختې دي، يوازې د رحمانيت د جاذبو تر اغېز لاندې به واقع وای، له خپله ځانه يې کوم نقش او رول نا ځرګند کړی او د قيام او پاڅون قابليتونه او وړتياوې او بالقوه استعدادونه به يې فعليت نه رسېدای، او په هماغه د پرښتو په مَلَکي مقام او منزل به باقي پاتې وای. نو په همدې لامل دی چې عليم او حکيم پالونکي رب هغه وروسته له دې چې هغه يې له بهترينو وړتياو سره په احسن تقويم کې و پنځاوه د سقوط او غورځېدا جاذبې ته يې وسپاره چې يا اعلی عليين ته صعود او لوړتيا وکړي او يا په اسفل سافلين کې سقوط او غورځېدا وکړي. (ثم رددناه اسفل سافلين).

---

۵ ـ « رَدَدْنَاهُ» د «رَدَدَ»، د يو چا يا يو څيز اړول يا ګرځول، مخکيني حالت ته دي. لکه ارتداد او له ايمانه بېرته کفر ته اووښتل [آل عمران۱۰۰(۳:۱۰۰)] او له ماتې وروسته له نوي سره برياليتوب [اسراء ۶(۶:۱۷)]. الله تعالی د موسی مور ته هم د هغه د نوزېږي بچي چې په نيل کې يې خوشې کړی وو، د بېرته ستنولو وعده ورکړه. « فَرَدَدْنَاهُ إِلَى أُمِّهِ ...» [قصص ۱۳ (۱۳:۲۸)].

د انسان صعود او سقوط [پورته کېدل او غورځېدل] او قيام او قعود [ودرېدل او کېناستل]، له جنته د آدم د «هبوط» [کوزولو] داستان را تازه کوي. د شيطان په وسوسه د آدم سرغړونه، له هاغه پوړ او مقامه، ځمکې ته د آدم د هبوط لامل شوه. تر څو بيا ځلې د ارادې او «اختيار» په ځواکونو او وړتياو او توانونو چې الله تعالی د هغه په جوړښت کې د امانت په توګه ايښي دي، سقوط له هاغه مقامه، د ايمان له صعود او نېک او صالح عمل سره جبران کړي او په ځان جوړونه او تزکيه د جنت وړتيا لاسته راوړي.« فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ وَقُلْنَااهْبِطُوابَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّوَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّوَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ» [بقره۳۶(۳۶:۲)].

« ثم»، د دغه سقوط د تلوار تدريجي والی ځرګندوي. «رددناه» چې د ماضي په توګه بيان شوی، د سقوط جاذبې ته د انسان خوشې کېدل او سپارل بيانوي او په پای کې «اسفل سافلين» له ټيټو شوو څخه د تر ټولو ټيټ مقام ځرګندوي چې له انساني لوړ مقامه د انسان په بيړه ناک سقوط تحقق مومي. دا ډول مقام او مرتبه په خارجي عالم کې عيني واقعيت نه لري، بلکې له ملکوتي عالمونو ساقط شوی انسان، هغه ته عينيّت وربښي او له همدې لامله دی چې د «سفلی» پر ځای يې فاعلي اسم «سافلين» کارولی دی [ همدا راز په اعلی عليين کې د «عليين» مقام دی].

په قرآن کې د سافل کليمه په عمده توګه د عالي او عليا په مقابل کې راغلې ده [توبه(۴۰:۹)،هود ۸۲ (۸۲:۱۱) او حجر ۷۴ (۷۴:۱۵)] او هم په ځېنو موردونو کې د فوق په مقابل کې [احزاب ۱۰ (۱۰:۳۳)]، او يا قُصوی د اسفل په مقابل کې [انفال ۴۲ (۴۲:۸ )].

د ټولو موجوداتو له منځه يوازې انسان دی چې الهي روح پکې پو شوی دی او ورته د «اختيار» په ښنلو يې د دا ډول صعود او لوړتيا وړتيا موندلې ده. په دې ترتيب انسان لکه د مقناطيس د دوو قطبونو تر منځ د اوسپنې د برادې په څېر د جاذبې د دوو ميدانونو تر تأثير لاندې موقعيت لري. لومړنی قطب هغه، د هستۍ د پالونکي رب پر لور او بل يې سرغړونې او له حريمه لېرې کېدو ته ځکوي. دا دوه ځواکونه هماغه د تقوی او فجور دوه متضادې انګېزې دي چې الله تعالی انسان ته الهام کړې دي [فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ]. «تقوی» د سرغړونې تموونکي او د الهي جاذبې په ميدان کې د انسان د پاتې کېدلو ځواک دی او «فجور»، له الهي حدودو او حريم څخه د خروج او شيطاني جاذبې ته د دخول ځواک دی. له تقوا سره مل سعې او هڅه ده چې د انسان ټيکاو او قوام موندی وجودي جوړښت [لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ] د الله په لور [اِلَى الْمَصِير] قيام او غوړېدا ته هڅوي.

---

## إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٦﴾

**مګر هغو کسانو چې ايمان يې راوړی او نېک کارونه يې کړي؛ نو هغوی ته ناپايه اجر دی.[۶]**

---

خو آيا کېدای شي سقوط ونکړو؟ هو له يوه پرته والي او استثناء سره: إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ. هېر مو نه شي چې دا الوتکه دوه ماشينه لري: يو د ايمان ماشين، بل د صالح او نېک عمل ماشين. نو، زموږ ماشين هماغه زموږ چمتووالی او وجودي استعداد دی چې په موږ کې يې تابيا شوې ده. وايي ما، ته د پورته راتګ او قيام په بهترين استعداد کې جوړ کړی يې، خو ته بايد پخپله دا استعداد له قوې څخه فعل ته ورسوې . دا چمتووالی بالقوه او ذاتي دی، د تعالی او پورته راتګ استعداد په تا کې شته، خو بايد دا استعداد، ته پخپله وپالې او وروزې او کمال ته يې ورسوې. خو که د ايمان او صالح عمل دا دوه ماشينه روښانه نکړې، تر څو چې يې همداسې به د سقوط په حال کې يې.

اوس کېدی شي دا پوښتنه وشي چې الله بايد ولې موږ سقوط او هبوط ته وسپاري او ولې يې موږ په هماغه جنت کې پرې نښوولو؟ ښه، دا سمه ده چې موږ ړومبی په جنت کې ولو، خو هاغه جنت زموږ د عمل پايله او محصول نه وو. الله موږ د جنتي کېدلو له استعداد سره خلق کړي يو. فرمايلي يې دي چې ته پخپله بايد جنتي شې، داسې چې جنت پخپله له تا راځرګندېږي: [وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ. ][زخرف (۷۲)] وايي دا جنت

ستاسو خپل ميراث دی، ستاسو د کړنو او عمل ميراث دی. وړيا نه دی چې هر څوک يې وغواړي هغه ته ورکړل شي. الله تعالی موږ ته دا توفيق او امکان راکړی دی او ويلی يې دي چې تا [انسان] ته داسې استعداد درکوم چې پورته لاړشې او صعود وکړې. که خپل استعداد دې په کار واچوه، په يقين سره هغه ته رسيږې. هغه مهال به ته پخپله رسېدلی يې او په خپله سعې او هڅه به جنتي شوی يې. يعنې ستا دننه به په جنت بدل شوی وي. جنت بايد ته پخپله په خپل ځان کې رامنځته کړې. جنت ستا په عمل جوړيږي. تر دې مخکې ، د خلقت په پيل کې، مو هغه تاته د سناريو په بڼه در وښود چې دا ستا مرتبه او ځايګی دی؛ اوس نو هغه بايد ته پخپله په خپل ځان کې ومومې. زموږ د ټولو په وجود کې دننه دا استعداد ايښوول شوی دی؛ لکه څنګه چې مثلاً د هاغو انځرو او زيتون په تخم او زړو کې د ودې او تکامل جينونه ايښوول شوي دي چې البته په الهي هدايت،[نه په خپله اراده او اختيار]، راپورته شوي او کمال يې پيدا کړی، خو کمال ته د انسان رسېدل دده پر اراده او آزادۍ پرېښوول شوی دی.

فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ. دغو انسانانو چې خپل ماشين يې روښانه کړی دی او پورته ځي، يعني له ايمان او صالح عمل سره، چرته رسيږي؟ مقصد بې پايانه او لايتناهي دی. «اجر» يعنې نتيجه، پايله او پاداش. «ممنون» له «مَنّ» څخه د قطع کولو په معنا دی. يعنې «غير ممنون» او دا اجر لاينقطع دی. داسې څيز نه دی چې ووايو تر دې ځايه دی او يو حد او بريد لري. بې اندازه اجر دی، مګر په دې حساب چې ته څومره او په کومه کچه اوج نيسې او پورته ځې، خو دا چې ته تر کومه ځايه غواړې لاړ شې او کولی شې لاړ شې نو ستا اجر ستا د اوج او اوچتېدو په تناسب دی.

د « ثم رددناه اسفل سافلين» قطعي او کورټ کلام کليت او ټوليزوالی له ورپسې آيت «الا الذين آمنوا و عملوا الصالحات....» سره چې پرې يوه استثناء ورزياتيږي. دا ډول استثناء هم د «عصر» په سورت کې د « الا الذين » له جملې سره وينو:

وَالْعَصْرِ . إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ . إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ و ....

په پورتني سورت کې پر عصر له سوګند سره چې له «زمان» څخه يو عنصر دی، د انسان پر زيانبار او تاواني سرليک ټينګار کوي او د تين په سورت کې پر «مکان» [طور سينين او بلد امين] له سوګند سره په بهترين تقويم کې د انسان پنځېدل څرګندوي.

د بنيادم د پالنې ټاټوبی او کومه ځمکه چې په هغې کې ژوند کوي، د هاغه انسان چې په «احسن تقويم» کې پنځول شوی دی د رشد او ودې د ډول ډول زمينو او امکاناتو يو«شاهد»

دی او هاغه «زمان» چې پرې تېرېږي له دغو امکاناتو او نعمتونو څخه په برخمنتيا او شکر کې د انسانانو پر عمومي خسران او زيان يو «شاهد» دی.

دوه پورتني آيتونه چې يو يې د انسان د رشد او قيام پر استعداد او بل يې د هغه پر خسران او زيان ټينګار کوي، د «بلد» سورت د دريم آيت په توسه بشپړېږي چې د سختيو په متن کې د انسان پنځونې ته اشاره کوي. داسې نه بريښي چې له دې دريو آيتونو پرته بل آيت شتون ولري چې پر انسان د چاپېريال شرايط (د في له توري سره) څرګند کړي. او د غور وړ ده چې دا دريم مورد هم پر مکې [مکان] له سوګند سره د سختيو او ستونزو له اړخه مسئلې ته پاملرنه کوي.

بيا هم د يادونې او پاملرنې وړ ده چې درې آيتونه، او يوازې درې آيتونه په قرآن کې داسې دي چې په هغوی کې د «انسان» کليمه د في له کليمې سره يو تر بله يو ځای راغلي دي.(۱) يو همدا آيت: لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ، دويم د «عصر» سورت دويم آيت: إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ. [عصر(۲)] او دريم هم د «بلد» سورت څلورم آيت: لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ. [بلد(۴)] په دې دريو آيتونو کې، يو حقيقت بيان شوی دی. دا آيتونه يو له بله سره يو ځای ښه پوهېدل کېدای شي. په دې سورت کې وايي موږ انسان د کمال او رشد په اوچت ترين ډېر ښه او تر ټولو غوره استعداد کې پنځولی دی؛ د «بلد» په سورت کې هم سوګند خوري چې انسان مو په سختۍ کې پنځولی دی. «کَبَد» يعنې سختي. او سوګند يې خوړلی بِهَذَا الْبَلَدِ. په دې ښار او هغه ښارونه چې د سختۍ دوران يې درلودلی، او دا چې انسان په سختۍ کې رشد او وده کوي او تعالي او اوچتوالی مومي. نو، لومړی داچې ته په خپل ځان کې اوچتترين استعدادونه پټ او نغښتې لرې. دويم دا چې دا استعداد له تن هوساينې، راحت او رفاه سره برياليتوب، ودې او غوړېدا ته نه رسيږي، بلکه په سختيو کې پالنه مومي.

او په پاي کې: وَالْعَصْرِ. إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ. سوګند پر زمان، چې انسان د زيان او تاوان ليدلو په حالت کې دی او بلکه د زيان او تاوان په متن کې دی. ولې؟ ځکه چې خپل دننۍ ماشين نه روښانه کوي او نه غواړي خپل تن سختۍ ته ورکړي. لکه څنګه چې سړی يو محصل ته چې ډېر هوښيار،ذکي، تيز هوشه او د استعداد والا دی وايي چې ته له دغې استعداد او الهي ورکړې سره کولی شې لوړې علمي، پوهنيزي او پوهنتونيزي پوړۍ ووهې او طې کړې او په علم کې يوې پوړۍ ته ورسيږې او په اختراع او اکتشاف لاس پورې کړې او د سترو علمي شخصيتونو په لړ کې ځای ونيسې؛ خو البته « نابرده رنج گنج ميسر نمی‌شود »

او دا ټول پر دې مشروط دي چې زيار وګالې او هڅه وکړې او دا مخ پر لوړه او کنډ او کپر لاره طې کړې. او همدې محصل ته، هغه مهال چې هيڅ کار نه کوي او خپل استعداد ضايع

کوي، ویل کیږي چې لګیا یې بایلښت کوې او خپل عمر بربادوي او په پای کې به له دې لامله ستر زیان ووینې.

دا درې سورتونه انسان ته یادونه کوي چې د هغه رشد، وده او تعالي د هغه په خپل همت، زحمت او هڅې پورې اړه لري. په دې درې واړو آیتونو کې استثناء راوړي چې الاّ الّذین.خو د «عصر» په سورت کې دوه ځیزونه نور هم پر هغو دوو ورزیاتوي او په په واقعیت کې د سړي د وجود الوتکه څلور ماشینه شوې ده: [وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ.] یعنې نه یوازې ته شخصاً پخپله پورته لاړ شې، بلکې نور هم باید له ځان سره پورته وڅکوې. نو نورو ته توصیه وکړه حق ته او صبر او مقاومت ته یې وبوله. هغوی ته سپارښتنه وکړه چې مقاومت وکړي، زغم وکړي او سقوط ونکړي؛ هڅه وکړي چې پورته راشي. هغوی ته حق وښایه او هغوی ته ووایه چې له سقوط پرهیز وکړي او ځان ترې وساتي. دا په واقعیت کې هاغه ټولنیزه جنبه او د انسانانو وجیبه او مسئولیت یو د بل په وړاندې دی چې یادونه یې کوي. نو، دا درې سورتونه د یوه واحد حقیقت درې شأنه یا بڼې څرګندوي او ټینګار کوي چې د نجات او ژغورنې یوازینۍ لار ایمان او صالح عمل دی. دا دواړه دي چې زموږ استعدادونه فعلیت ته رسوي. او البته او سل البته دا دواړه سخت او ستونزمن دي.

موږ ټول د خسران په متن کې واقع یو، مګر دا چې وکولی شو د هاغو شیبو په بدل کې چې تېرېږي او له لاسه یې ورکوو یو څه لاس ته راوړو. انشاءالله چې الله موږ ټولو ته توفیق راکړي چې د خپل وجود الهي بالقوه استعدادونه هر څومره چې وکولی شو له حاصله ډک او مخ په ودې کړو او په بالفعل استعدادونو یې بدل کړو او الله دې زموږ پای په خیر کړي.

لکه څنګه چې وویل شول، پر دې خسران او اسفل سافلین ته پر سقوط یوه استثناء شتون لري چې هغه عبارت له «ایمان او عمل» څخه ده [ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ. ]. دا دوه لاملونه د انسان د دنننې ځواک او هڅوونکې مشین په توګه، له یو پلوه له ځمکنې سقوط له منفي جاذبې سره مقابله کوي او بل له پلوه لوړو ارتفاعاتو ته د صعود لامل کیږي. الله تعالی دا حقیقت په څومره ښکلې طریقه د فاطر په سورت کې بیان کړی دی: [فاطر (۱۰)]

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ ....

هاغه چې عزت (لوړ مقام او موقعیت – اوچته او رفیع ځمکه) لټوي،(نو پوه دې شي چې) عزت په ټولیزه توګه له الله سره دی ( او له دې لارې حاصلیږي چې) سپېڅلی کلام د هغه لورته صعود کوي او صالح عمل هغه پورته وړي ....

دا ږول «ارتفاع نېول» او پورته تګ يې په نورو آيتونو کې هم په بله ژبه او له بلې زاويې بيان کړی دی چې هر يو د ايمان او صالح عمل يو مصداق او مورد څرګندوي، له هغې جملې:
[نور (۳۷-۳۶)] [فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ. رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ.]
په پورتني آيت کې د ايمان نښه، د الهي اسماء ذکر، د ګهيځ او شپې تسبيح او له قيامته ويره ده او د صالح عمل نښه د زکات ورکول او ددې پر ځای په داسې کار او کسب نه مشغولېدل دي چې د الله ياد، د لمونځ اداء کول او د زکات ورکول يې له ياده وباسي .
[مجادله (۱۱)][...يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ.]
پورتنی حقيقت چې په مجلسونو کې د ګډون د آدابو رعايت کول او له ځای خوښولو څخه د ځان ساتلو توصيې پسې دی، د نورو حقوقو ته احترام او درناوی او علم او علماؤ او علمي چاپېريال ته قدر قايلېدل يې دايمان او صالح عمل له نښو ګڼلي دي چې د انسان د درجې د ترفيع او لوړتيا لامل کېږي. اصولاً تعليم او تعلّم د صالح عمل له څرګندو مصاديقو څخه دي چې لوړو او عاليه مقامونو او پوړيو ته د انسان د پورته کېدو لامل کېږي. لکه څنګه چې پيغمبر «ادريس» (ع)، [چې نوم يې د هغه له پرله پسې درس ويلو (يا درس ورکولو) ښکارندوی دی]، له دې لارې لوړ مکان ته ورسېد.
[وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا]. [مريم (۵۶)]
دا نکته او اشاره هم د پاملرنې وړ ده چې د «ايمان او صالح عمل» په مقابل کې [چې د انسان اوچتوونکی دی]، «کفر او تکذيب» هم د سقوط او هبوط موجب کېږي. دا مطلب يې په څو آيتونو کې ذکر کړی دی چې بعضاً د «الا الذين» استثناء پکې کارول شوې ده. [۲]
[انشقاق(۲۵،۲۴،۲۳،۲۲)][بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ﴿۲۲﴾وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿۲۳﴾فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿۲۴﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ. ﴿۲۵﴾][۳]
[بقره (۳۸)][قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا... وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ...]
او تر ټولو جوت او ښکاره کفر، له الله سره شرک دی چې د آسمان له لوړتيا د درو او کندو ټيټوالي ته د انسان د سقوط لامل کېږی: [حج (۳۱)][....وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ.]
دلته يوې بنسټيزې نکتې ته پاملرنه پکار ده او هغه دا چې: انسان چې له داسې وړتيا او استعداد سره پنځېدلی او په احسن تقويم کې خلق شوی دی او د هغه بدني تعادل ددې لامل

شوی دی چې په هغه کې انساني روح او اروا ځای ونيسي او تر ټولو اوچت ترين ارزښتونه پکې متمرکز شي او داسې يوه اروا لري چې په پرمختګ، ودې او تکامل کې کوم بريد، حد او نهايت نه لري او له بل لورې دا هم شوني ده چې ټيټ ترينو درجو ته سقوط وکړي، آيا کېدی شي د دا راز يو موجود ژوند او حيات همدې دنيا ته محدود وي او له دنيا اخوا بل عالم شتون ونه لري؟

دا ددې موضوع په څېر ده چې يو مارغه له ډېرو ښکو سره خلق کړي، خو دا مارغه په داسې يو چاپېريال کې خلق کړي چې د يوې پنجرې يا قفس په کچه دی. دلته دا پوښتنه رامنځته کېږي چې: که دا مارغه خلق شوی چې له پيله تر پايه په يو قفس کې ژوند وکړي نو دا ښکې او وزرونه يې د څه لپاره خلق شوي دي؟ وزرونه ددې ښکارندوی دي چې دا مارغه په دې پنجره کې د پاتې کېدو نه دی، بلکې بايد په پراخه فضا کې الوتنه وکړي، د وزرونو شتون ددې لپاره قرينه او نښه ده چې ددغه مارغه لپاره د قفس له فضا پرته بله فضا شتون لري.

انسان هم له داسې وزرونو سره ﭘﻨځول شوی چې ددې دنيا له سطحې ډېر اوچت دي، د پورته تګ له ليده، انسان ته وزرونه يعني روحي ارزښتونه ورکړل شوي دي چې که د طبيعت له عالم اخوا کوم عالم شتون ونلري، ټول طبيعت د هغه لپاره يو قفس دی. نه يوازې د ښېګڼېزو چارو لپاره، بلکې حتا د بدو چارو لپاره هم دا دنيا د انسان لپاره پراخ ډګر نه لري؛ يعني د بدو چارو له ليده هم انسان دومره ټيټ ځي چې دا دنيا د هغه د جزا لپاره کافي نه ده. نو بايد يو بل ځای وي چې د هغوی د مجازات ځای هلته دی ځکه نو: **فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ.**

۱ـ [البته د «من» له توري سره د انسان د خلقت زمينو ته زياته اشاره شوې ده (لکه: خلق الانسان من علق، من صلصال، من حماء مسنون، من نطفة، من سلاله، من طين، من عجل) چې په ټوليزه توګه د قضيې مادي اړخ ته پاملرنه لري، په داسې حال کې د «فی» له توري سره روحي زمينوته پاملرنه لري.]

۲ـ د «الا الذين...» استثناء د عصر او تين پر سورتونو سربېره په لاندينيو سورتونو کې هم کارول شوې ده :

[هود (۱۱ )] وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ... إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ.

[شعراء (۲۲۷)] وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ.... إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَ....

[ص (۲۴) ] .... وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَا هُمْ....

[انشقاق(۲۵)]بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُون...فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيم. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ.

۳ـ د «إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ» بشپړ آيت يوازې د تين او انشقاق په سورتونو کې راغلی دی چې له دې د مخکينيو او وروستنيو آيتونو مقابله او مقايسه د مطلب له فهم سره مرسته کوي.

۶ ـ د « ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ» قطعي او کورټ کليّت او ټوليزتوب، له ورپسې آيت « إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ » له ورپسې آيت سره يې د استثناء او ځانګړېتوب حالت څرګندوي. دا ډول د استثناء

او ځانګړيتوب حالت د عصر په سورت کې هم د « إِلَّا الَّذِينَ» له جملې سره کتلی شو: [« إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ»] چې د «زمان» له يوه عنصر سره د انسان په تاواني او زيانبار سرليک ټينګار کوي او د تين په سورت د «مکان» له ذکر سره [وَطُورِ سِينِينَ وَهَذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ] په بهترين تقويم کې د «انسان» د خلق کولو او پنځولو څرګندونه کوي.

د انسان د پالنې «مکان»، د هاغه انسان د رشد او ودې پر امکاناتو او راز راز زمينو ګواه او شاهد دی چې په « احسن تقويم» کې پنځول شوی دی او هاغه «زمان» چې پرې تېرېږي له دغو امکاناتو او نعمتونو په برخمنۍ، ګټه اخيستنې او شکر کې د انسانانو پر عمومي زيان او خسران شاهد او ګواه دی.

پورتنې دوه آيتونه چې يو د انسان د ودې، رشد او قيام پر استعداد او بل د انسان پر خسران او زيان ټينګار کوي، د «بلد» سورت څلورم آيت بشپړوي چې د سختۍ په متن کې د انسان پر پنځېدو او خلق کېدو ټينګار کوي. په قرآن کې له دغو دريو آيتونو پرته هيڅ بل آيت شتون نه لري چې پر انسان د چاپېريال او محيط شرايط [ له اضافي حرف في] سره څرګندوي. په لاندې توګه دادرې مورده تر مقايسې او پرتله کېدو لاندې نيسو:

[د بلد سورت]: « لَا أُقْسِمُ بِهَذَا الْبَلَدِ .... لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي كَبَدٍ»
[د تين سورت]: « وَطُورِ سِينِينَ وَهَذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ»
[د عصر سورت]: « وَالْعَصْرِ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ»

په دې ترتيب د انسان په پيدايښت کې دريو حقيقتونو ته اشاره شوې ده:
۱ ـ انسان په بهترين تقويم کې پنځېدلی دی چې د خپلې وجودي ودې او کمال په جهت کې قيام وکړي.
۲ ـ د انسان قيام د سختيو او ستونزو له متن پرته کېدونی نه دی.
۳ ـ انسان که خپل ځان په سختيو کې برتر او راپورته نه کړي او ودرېدنه او قيام ونکړي، هرومرو به زيانکار او تاواني شي.

---

## فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ﴿۷﴾

نو [ای انسانه] کوم لامل تا د دين [= د نېک او بد عمل محصول] دروغ ګڼلو [اوانکار] ته هڅوي؟

---

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ. له دغه ټول احوال سره ته څنګه کولی شې دين تکذيب کړې؟ کېدی شي داسې تصور شي چې له «دين» څخه مراد مثلاً د اسلام دين دی يا په ټوليزه توګه په خدای

اعتقاد دی. چې د دين کليمه په دې معنا موږ ډېره کاروو، يعنې يو نظام او ايډيالوژي چې د دنيا،کايناتو، خدای، انسان او بلې دنيا په اړه د يو لړ عقيدو، ليدلورو او پېژندنو لرونکې ده، او هم په وګړيز او ټولنيز ژوند کې د چلن او کړنو لپاره پر يو لړ نظامونو، اوامرو او احکامو مشتمل دی او دا چې څنګه بايد اوسي او څنګه بايد ژوند وشي. لنډه دا چې هغه ستره دستګاه چې موږ ورته شريعت وايو. نو دين په دې معنا هم په قرآن کې راغلی دی:[إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ....][آل عمران (۱۹)]، [....إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ] [بقره (۱۳۲)]. په ځينو ځايونو کې «دين» د عبادت، خضوع، تواضع او بې کبری مفهوم لري. د بېلګې په توګه په کومو ځايونو کې چې قرآن فرمايي: [...مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ...] [اعراف (۲۹)] يعنې د خپل پالونکي رب په حضور کې د هغه په عبادت او اطاعت کې په خضوع کې اخلاص کوي. خو دلته له «دين» څخه مراد بايد د هغه لغوي معنا واخېستل شي. مخکې مو ويلي د «دين» اصل معنا جزا او پاداش او په واقعيت کې د کړنو او عمل نتيجه او پايله ده. د «ماعون» په سورت کې راغلي چې: أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ [ماعون (۱)] آيا ودې نه ليدل هغوی چې د دين تکذيب کوي؟ دلته نه غواړي ووايي چې دوی د الله په ذات يا نبوت يا قيامت کې شک، ترديد يا انکار لري، بلکه وايي: فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ. وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ. [ماعون (۲ او ۳)] ددوی تکذيب همدا دی چې يتيمان له خپله ځانه شړي، وږو ته نه رسيږي. ګواکې دا نه مني چې ددوی راتلونکي او آخرت ددوی له کړنو او عملونو سره جوړيږي. نو دين يعنې «جزا». ته څه ډول غواړې جنت ته لاړ شې؟ وږيا خو نه کيږي. که يتيم ته ورسېدې، که بېوزلو او وږو ته ورسېدې او که ... نو هغه مهال ورپسې وايي دا ستا «دين» دی؛ يعنې ستا جزا ده يعنې هر څوک خپله نمره اخلي. هره هڅه چې وکړو نتيجه او پايله به يې ووينو او زموږ عمل دی چې زموږ جزا او پاداش ټاکي. دا دين دی. د «دين» معنا يعنې همدا. البته دين په نورو موردونو کې هم کارول شوی دی؛ لکه يوم الدين چې د قيامت بل نوم دی؛ يعنې هغه ورځ چې پاې ليک او کارنامه ورته په لاس ورکوي او د خپل عمل پايله ويني.

نو وګوره، دا ماشين چې ستا په وجود کې دننه شتون لري، څه پرې کوې؟ غواړې ځان خوشي کړې او د سقوط په جاذبه کې وغورځيږې؟ د سقوط جاذبه يعنې همدا شيطاني هوا او هوسونه او د نفس هوا. د حضرت علي يو تعبير دی چې فرمايي إِنَّ الْجَنَّةَ حُفَّتْ بِالْمَكَارِهِ جنت په سختيو کې نغښتې يوه هديه، ډالۍ ياتحفه ده يعنې جنت د هاغو کارونو په مقابل کې

چې زموږ ترې خوښېږي موږ ته نه راکوي. الله تعالی موږ ته فرمان راکوي چې مثلاً اړمنو ته حسنه پور ورکړه، انفاق وکړه، سختی وزغمه، غچ مه اخله، له خپله ځانه د حق په لار کې تېر شه يعنې خپل ځان دې قرباني کړه؛ ښه نو دا خو ټول سخت دي.

فرمايي جنت د هاغې ډالۍ په څېر دی چې ښو ځله يې د ډالۍ په ډبې يا کڅوړه کې نغاړلی او پېچلی دی چې پرانېستل او را ايستل يې ډېر ستونزمن دي. خو دوزخ ددې پر عکس دی، إِنَّ النَّارَ حُفَّتْ بِالشَّهَوَات. خو د دوزخ د ډالۍ نغاړنه او بسته بندي زموږ په نفساني غوښتنو او تمايلونو او موږ ته په خوښندو چارو کې شوې ده، يعنې په دنيايي خوندونو کې ده. نو، طبيعي ده که سړی د ماشين د روښانه کولو سختی پرځان هوارې نه کړي، چون پر خپل ځان بايد فشار راوړي چې مخ پورته يون وکړي. وايي دا استعداد په تا کې شته چې له ټولو موجوداتو اوچت مقام پيدا کړې، خو بايد هڅه وکړې او زيار وکاږې. اوس نو، دا څنګه کېدای شي چې دين تکذيب کړي؟ آيا کولی شې هغه استعداد او د هغه پالنه او کمال ته رسېدل تکذيب کړې؟ آيا کولی شې د تکامل پر ځواک او وسې سترګې پټې کړې؟ چې مثال مې يې درته له انځر او زيتون سره څرګند کړ، دا خو د تکذيب وړ نه دي. څه څيز لامل کېږي چې ته د خپلو کړنو او عمل پايله او نتيجه ناليدلې ونيسې؟

[جاثيه (۲۲)] وَخَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزَى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ....

الله تعالی آسمانونه او ځمکه د څه لپاره خلق کړې دي؟ ددې لپاره چې هر يو انسان د خپلې سعې او هڅې په کچه نتيجه لاس ته راوړي. يعنې جهان زموږ په وړاندې رام او تسليم دی چې موږ هغه په څه طريقه تسخير او خپل کړو.

نو د انسان د صعود او سقوط د قانونمنديو له بيان وروسته او د نېک چارو مؤمنينو لپاره د بې پايانه اجر [أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ] له ټاکنې پسې، دادی پيغمبر اکرم(ص)، يا په احسن تقويم کې پنځول شوي هر انسان ته په خطاب کې پوښتنه کوي:« فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ»؟.

د دين اصلي معنا لکه څنګه چې مخکې مو وويل، لغت پېژندونکي اديبان وايي «اجر، انعام، بدله او پاداش دی» دی که حکومتي قوانينو او يا الهي شريعت ته هم دين وايي، د هاغه اجر او پاداش يا تعقيب او تنبيه له لامله دی چې قوانينو ته ژمن نېک چارو يا د هغه ماتوونکو خطاکارو ته ټاکل شوي دي. نو پر دې بنا په پورتني آيت کې، بايد د دين تکذيب د انسان د عمل، کړنو، لاسته راوړني او اکتساب اړيکه د هغه له صعود او سقوط سره وي، نه د يوم الدين يا الهي شريعت تکذيب.(۱)

لکه څنګه چې انسان په احسن تقويم کې پنځول شوی دی او کولی شي حق ته په قيام سره او د هغه د جاذبې تر اغيز لاندې د ايمان او صالح عمل په څواک صعود وکړي، يا دنيايي جاذبو ته په تسليم او تن ورکولو سره د فساد په منجلاب کې سقوط وکړي، نور نو له اجر او پاداش سره د عمل له اړيکې څخه د انکار څه ځای پاتې کيږي «فما يکذبک بعد بالدين»؟.

١ ـ د «دين تکذيب» پر دې سورت سر بېره په نورو سورتونو کې هم کارول شوی دی چې عمدتاً له عمل او باور نه درلودلو سره په اړمنتيا د هغه منفي نتيجه ده نه د دين تکذيب د شريعت يا يوم الدين په معنا.

[ماعون (۱،۲، ۳) ] ـ أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ ....

[انفطار (۹)] ـ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِالدِّينِ، وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ، كِرَامًا كَاتِبِينَ، يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ.

[ذاريات (۶ )] ـ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ، وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ، وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ، إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُخْتَلِفٍ .

## أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ﴿۸﴾

آيا الله محکم [او استوار] حکم کوونکی [او پرېکړه کوونکی] نه دی؟[۷]

أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ. آيا الله أَحکم الحاکمين نه دی؟ د الله «حکم» يعني هاغه نظامونه او قوانين چې ګمارل شوي او جاري دي. او يو له هغو همدا «دين» دی چې هر څوک به په پای کې يوه ورځ د خپلو کړنو او چارو وړ نمره او پايليک اخلي. د الله حکم همدا دی؛ هاغه قوانين او نظامونه چې هغه په جهان کې نافذ، جاري او ساري کړي دي.

څرنګه چې انسان په «حرکت» کې خپل ماهيت جوړوي او د سختيو په کشاکش او د اوضاع او احوال په لوړو ژورو کې انساني جوهر او هويت صيقل مومي او خپل ځان څرګندوي، نو د حساب او کتاب او د ميزان او عدل او انصاف د حاکميت د تکذيب څه ځای ؟ که الله «احکم الحاکمين» دی[۱] د هغه حکم دا ډول دقيق او محکم دی چې يو ډېر کوچنی عمل هم ناليدلی نه نيسي. ځکه چې د عالم دستګاه او کارخونې ته يې دا راز يو نظام ببنلی چې هر چاته د هغه د عمل پر حساب جزا ورکړل شي:

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ . وَخَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزَى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ [ جاثيه (۲۱ او ۲۲)]

آيا هاغو کسانو چې بدی يې راپنډې کړې [ خپل وجود يې د بديو له اغيزو او خټوب څخه ډک کړی] داسې ګڼې چې هغوی به د هاغه چا په څېر چې ايمان يې راوړی دی وګمارو [په

داسې ډول چې] چې مرګ او ژوند يې يو راز وي؟ څه بد حکم کوي! په داسې حال کې چې الله تعالی آسمان او ځمکه په حق [نه په باطل او وخت اړونه] پنځولي چې هر څوک د خپلې لاسته راوړنې په تناسب، پرته له دې چې له حقه يې لږ شي، اجر او پاداش واخلي.


«حاکم» يعنې حکم کولو والا چارواکی، نو که د «احکم الحاکمين» مفهوم [يعنې تر ټولو حاکمانو يا چارواکو اوچت او برتر چارواکی] که يوازې په قدرت او ځواک کې تر نظر لاندې ونيسو محدوده معنی لري خو دلته له حاکمانو څخه اوچت او برتر په قدرت، پوهه، حکمت، عدالت او لنډه دا چې په ټولو صفتونو کې چې د يو حاکم لپاره ضروري دي. نو چې احکم الحاکمين خدای شته، دا شونې نه ده چې «دين»، جزا، اجر او پاداش نه وي.

دا ددې سورت په اړه عمومي او کلي توضيحات ول. په واقعيت کې دا سورت د انسان سورت دی، ځکه چې موضوع يې د انسان په محور څرخي، خو له دې لامله چې لومړنی سوګند يې پر تين دی، د «تين» په نامه يې نومولی دی. و ما علينا الی البلاغ

١ ـ يو ځل بل هم په قرآن کې د «احکم الحاکمين» صفت د حضرت نوح له ژبې بيان شوی دی، هغه مهال چې د خپل زوی له غرقېدو سره خپل پالونکی رب ته په هغه ژمنه چې کړې يې وه له دې صفت سره ندا ورکوي:
[هود (۴۵)] وَنَادَى نُوحٌ رَبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنْتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ

۷ ـ د «دين تکذيب» يوازې د کافرانو زباني انکار نه دی، مؤمنان هم که پر هغه څه چې ايمان يې راوړی دی عمل ونکړي، له دين څخه يې د نن ورځې عمل د سبا له سرليک سره د اړيکې په معنا عملاً انکار کړی دی. نو پر دې بنا په دې آيت کې د دين تکذيب، په زباني ايمان کې تم کېدل دي. د ماعون سورت ته پاملرنه وکړئ چې د دين تکذيب کوونکی يې هماغه بې پروا، له سره اړوونکی، رياکار او مال پرست نمونځ کوونکی معرفي کړی دی چې يتيم له ځانه شړي او د وږو د مړولو لپاره هيڅ انګېزه نه لري.

کله چې انسان په احسن تقويم کې پنځول شوی او کولی شي حق ته له قيام او د هغې د جاذبې تر اغېز لاندې، د ايمان او صالح عمل په ځواک صعود وکړي، او يا دنيايي جاذبو ته په تسليم او غاړه ايښوونه د فساد په مردار ډنډ کې سقوط وکړي، نور نو له عمل سره د اجر او پاداش د اړيکې د نه منلو او انکار څه ځای پاتېږي. [فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ]؟ هغه انسان چې له «حرکت» سره ماهيّت جوړوي او د سختيو په کشاکش او د ژوندانه په لوړو ژورو کې خپل انساني جوهر او هويت څرګندوي، د حساب او کتاب او ميزان او عدل او انصاف د حاکميت د تکذيب څه ځای پاتېږي؟ د «أَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ» حکم دومره دقيق او محکم دی چې يو کوچنی عمل هم نا ليدلی نه ګڼي او د هستۍ عالم ته يې دا ډول يو نظام ښبنلی چې هر څوک د خپل عمل محصول مومي.


(فلهم اجر غیر ممنون) =
جزا
د صعود لارلیک
... الا الذین آمنوا و عملوا الصالحات
اعلی علیین
ایمان او صالح عمل
الیه یصعد الکلم والعمل الصالح یرفعه
د رحماني هدایت جاذبه
فی بیوت اذن الله ان ترفع و یذکر فیها اسمه...
توحیدي کلیمه (لا اله الا الله)
تقوی
توحید
آسمان
انسان
د هبوط برید
شرک
کنده
(فالهمها فجورها و تقویها)
قلنا اهبطوا منها.. فمن تبع هدای ...
و من یشرک بالله فکانما خر من السماء
فتخطفه الطیر او تهوی به الریح فی مکان سحیق
فجور
(ثم رددناه اسفل سافلین)
بل الذین کفروا یکذبون...
کفر او تکذیب
د شیطاني فریب جاذبه
د سقوط لار لیک
جزا
اسفل سافلین
= (فبشرهم بعذاب الیم)